Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوي واوره (تاریخي ناول)

لیکوال: کریستهوفر گوډمن

ژباړن: دانیال مده‌خېل

جګړه، رومانس، تاریخ، فلسفه او ادبیات

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۵۴ز. نوریلیسک کانونه، سایبریا

ماښام مهال شدیده واوره وه، د مارپیچ کانونو له منځ څخه د ماشینونو غږونه راتلل چې تیږه یې ماتوله. سلګونه کارګران او ماشینونه په ګډه لګیا وو. د کارګرانو په سر، په یوه لوړه برنډه، یو شوروی ډګروال ولاړ وو چې د کار نظارت یې کاوه. داسې ښکارېدل چې کارګران ټول جنګي اسیران دي چې د اجباري کار لپاره کان ته راوستل شوي دي. ځینې به یې د ټوپک په خوله ګواښل کېدل چې سم کار وکړي.

شپه وه، خو لویو لویو څراغونو د کان منځ رڼا کړی وه چې کارګر سم ښکاره شي. له لوی مارپیچ کان کې څخه باربري لارۍ کوزېدې او پورته کېدې، ډګروال یې له لیرې نظارت کاوه. د خپل دوربین په واسطه یې د کان ځینې برخې تر نظارت لاندې وې، په دې وخت کې یو افسر راغی او د ډګروال په غوږ کې یې څه وویل.

ډګروال ورسره لاړ، له کان لږ هاخوا د کارګرانو خیمې وې، یوې خیمې ته ننوت. ویې لیدل چې یو کارګر لړزې نیولی او ځان یې کمپله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نغښتی. یو شوروي عسکر یې سر ته ولاړ دی او توپانچه یې پرې نیولې او ګواښې یې چې له ځایه پورته شي خو کارګر لړزې اخیستی و.

یو افسر د توپانچې ګېډ کش کړ، ویې ویل: وبه یې وژنو چې کار نه شي کولی! بې غمه به شو.

ډګروال خیمې ته ننوت، ټولو سلامې ووهله، ډګروال خبره اوریدلې وه: وبه یې وژنو که کار نشي کولی.

ډګروال سر وښوروواه چې مه یې وژنئ. د کارګر سترګې په څراغ کې نښتې وې او لړزېده، ډګروال کمپله ترې ګوښه کړه، ویې لیدل چې په زړه پورې یې یوه زړه کتابچه نیولې ده. ډګروال لاس ور اوږد کړ چې کتابچه ترې راواخلي خو کارګر نوره هم په ځان پورې کلکه کړه او ممانعت یې وکړ، په دې وخت کې یو عسکر، کارګر د توپک په کنداغ سرته وواهه، کارګر بې هوښه شو.

ډګروال غوسه شو، ویې ویل: افسره! په خپل سر مه اوسه. افسر ښښنه وغوښته.

ډګروال کتابچه راواخیسته او څو پاڼې یې واړولې، جرمني ژبه لیکل وو، په ځینو مخونو یې سترګې ولګېدې چې ډېر ځله د ستالنګراډ لغت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې لیکلی و. نورو مخونو کې یې نقاشي وه. ډګروال وروځې پورته کړې او کتابچه یې له ځان سره واخیسته.

په خیمه کې څلور تنه عسکر وو، ټول منتظر چې ډګروال د کارګر د وژلو امر ورکړي خو ډګروال برعکس، وویل: پرځای یې پرېږدئ، کله چې ښه شو چې کار ته لاړ شي.

ډګروال له خیمې ووت، د کارګر په ټنډه باندې د وینو لیکه وچه شوې وه. یوه عسکر غلي وویل: لعنتي نازي!

ډګروال خپل دفتر ته لاړ، هاخوا بخاري چالان وه او له رادیو څخه د موسیقي غږ اورېدل کېده، ترڅنګ یې په دېوال باندې یوه تابلو هم وه. ترڅنګ یې د ویلادیمر لینن عکس و.

ډګروال چېنه وباسله، ترڅنګ کثافت داني ایښې وه، هغې ته یې وکتل او کتابچې ته یې هم وکتل، غوښتل یې چې کثافاتو ته کتابچه واچوي. په دې شېبه کې یو عسکر راننوت، نظامي سلام یې وکړ. د مېز په سر یې ځینې اسناد کېښودل او ووت.

ډګروال د خپل کاري مېز لور ته روان شو او پر څوکۍ کېناست، ډبل غټ سګرټ یې بل کړ، لوګی یې پورته شوه. په یوه لاس کې یې سګرټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او بل لاس باندې یې کاغذونه وکتل. څه موده غلی و، بیا یې هم کتابچې ته ورپام شو، راویې خیسته او لومړی پاڼه یې واړوله.

په جرمني ژبه پکې لیکل شوي وو (د یو بایلونکي خاطرات: الکساندر، د کتابچې بله صفحه یې واړوله، پنسلي نقاشي وه، یوه نجلۍ وه. په بله صفحه کې متن و چې عنوان کې یې لیکلي وو: له باروتو پخوا...

ډګروال چې په جرمني ژبه پوهېده، سګرټ یې ګوښه کېښود، د چای پیاله یې ډکه کړه ، په رادیو کې موزیک هم ټیټ کړ. په لوستلو یې پیل وکړ:

له باروتو پخوا،

نه پوهېږم چې په دې تیاره جهان کې چې زما لپاره هېڅ ارزښت نه لري، ولې غواړم خپلې خاطرې پرېږدم؟ خو که رښتیا ووایم له جګړې پخوا هرڅه ډېر ښه وو، جهان دومره نه و تیاره لکه نن چې دی. زه برلین ته نږدې په یوه کلي کې د خپل پلار په ټاټوبي کې اوسېدم او په کرنه بوخت وم. چرګې او غواګانې مې ساتلې او له دې لارې مې ځان او خپلې بوډۍ مور ته خواړه برابرول. ښار ته به ډېر نه تلم، یوازې به هغه وخت تللم چې کوم وخت ادبي بنډارونه وو، یا هم کوم نوی کتاب چاپ شوی و، د هغه لپاره به کتابتون ته تللم. ځینې وخت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نقاشیو نندارتونونو ته هم ورتلم، هغه وخت ما هم تازه نقاشي زده کړې وه او علاقه مې وه.

زه یو خوش طبیعته ځوان وم. آشپزي، نقاشي،شعر او ادبیات او کیسه لیکل مې عادت وو. موسیقي مې هم اورېدله او تر ډېره به له طبیعت سره وم. ډېر وخت به مې په تازه چمن کې چې څنګ ته به یې د پاکو اوبو ویاله بهېده؛ وخت تېراوه. خپل کتابونه او د نقاشۍ پاڼې مې هم راسره وې.

په هغه موده کې چې زما ورپام و، خلک له طبیعت لېرې کېدل، دوی صنعت ته مخه کړې وه. له اوسپنې څخه یې غټ غټ ماشینونه جوړ کړي وو چې ونې یې پرې اره کولې، دوی د طبیعي ښکلا پرځای د ښارونو مصنوعي ښکلا ته پناه ور وړې وه.

ما هم کولی شول چې برلین ښار ته لاړ شم او هلته استوګن شم، خو زه په طبیعت میئن وم، زما بوډۍ مور هم په طبیعت میئنه وه. هغې څو ځله راته ویل: هېڅ شی هم نشي کولی چې د طبیعت ځای ونیسي، طبیعت د خدای تحفه ده او له دې پرته ژوند کول ستونزمن کیږي، مور له نباتاتو سره اړیکه لرو، باید هڅه وکړو چې په ورځ کې یو ځل خپلې پښې په چمن کې لوڅې کړو ترڅو له طبیعت سره وصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو، که چمن نه وو نو په تشه ځمکه باید لوښې پښې وګرځو چې له طبیعت سره وصل وو.

هغې چې خپل ټول عمر په همدې شنه کلي کې تېر کړی و، هېڅ کله یې ونه ویل چې د ښار په لور ځو. زما پلار په لومړۍ نړۍوالې جګړه کې له فرانسویانو سره په جګړه کې وژل شوی و او دا ځای یې مورِ ته په میراث راپرېښی و. زما مور ویل چې حتی پلار دې هم د ښار تور لوګي او د ماشینونو شور نه خوښاوه.

زما مور سواد نه درلود خو ځینې وخت به یې داسې فلسفي خبرې وکړې چې زه اوس ورته حیرانېږم، یوه ورځ یې د ویرماخت(جرمني پوځ) یو زره‌دار موټر ولید چې زموږ د کور مخ ته سړک سره روان دی، نو ویې ویل: خدای موږ ته د طبیعت په واسطه اوسپنه راکړه چې ځان ته وسایل فراهم کړو ترڅو ژوند مو آسانه شي خو موږ احمقو انسانانو ورڅخه ټوپک او ټانکونه جوړ کړل چې د خلکو کورونه وران کړي او خلک ووژني.

هغه وخت ما د جنګ میدان نه و لیدلی ځکه یې ډېر په کیسه کې هم نه وم خو له جګړې وروسته مې د مور هغه خبرې راپه زړه شي چې څومره د فکر وړ خبرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې ځوان شوم وم، ما ته یې وویل چې د واده فکر ولې نه کوې، ما ورته وویل چې واده هغه وخت کوم چې د هیلو نجلۍ مې پیدا کړم، کنه نجونې خو ډېرې دي.

هغې به په ټوکو راپسې تکراروله: د هیلو نجلۍ! د هیلو نجلۍ!

زما موخه دا وه چې زه په نقاشۍ او داستان لیکلو کې پرمختګ وکړم او د جرمني په سطحه لوی نقاش راڅخه جوړ شي، ما غوښتل چې د پیکاسو په څېر لوی نقاش شم.

عجیبه سړی وم نو، یو هدف مې نه درلود، یو ځای به مې د وایلون غږ زړه ته رانوت، بیا به مې نقاشي خوښېده او یا هم به هم په داستان لیکلو بوخت وم. یعنې هم مې غوښتل چې د جرمني په سطحه ښه وایلون وغږوم، هم نقاشي وکړم او هم داستان ولیکم!

له جګړې پخوا زما اخلاق ډېر ښه وو، هېڅ مه نه په زړه کېږي چې غوسه شوی دې وم او یا مې چاته بده خبره کړې وي. دا ټول د ادبیاتو زور دی، ادبیات د انسان زړه نرم کوي، عاطفي کوي یې.

د ډېرو شعرونو لوستل هم عاطفه ځواکمنوي، کله چې عاطفه ځواکمنه شي نو د انسان زړه نازک شي، په عادي خبره به هم خپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي. کله چې عاطفه څواکمنه شي نو موږ د روزګار د پېښو په وړاندې ضعیفوي او ان تر دې حد مو رسوي چې ژوند کول ستونزمن کېږي.

زه هم د همدې خلکو له ډلې وم، عواطف مې لوړ وو. له جګړې مې بد راتلل، حتی ما به خپل پلار هم د مور په مخکې ملامتاوه چې ولې پر ما باندې الکساندر نوم ایښی؟ د یو داسې چا نوم چې د انسانانو په وژنه باندې مشهور شوی؟

خو مور به ویل: هغه یوازې فاتح و او جهانګشایي یې کوله.

ما به ورته ویل: چې نو د سیمو فتح کول خو په انسان‌وژنه کېږي.

زه ډېر د جګړې ضد سړی وم، سیاسي مفکوره مې نه لرله او نه هم ورته ژمن وم، ټولو ته مې د انسانانو په سترګه کتل، نه د کوم هېواد د وګړو په سترګه! تور او سپین، جرمن او یهود، عرب او ترک دا ټول خبرې چټیات/چرندیات راته ښکارېدل.

خو د هغه وخت د حالاتو مطالعې داسې راڅرګنده کړه چې د انسان دوستۍ له لفظ څخه سوء استفاده کېږي او ځینې کسان شته چې د انسان دوستۍ چیغې وهي، په اصل کې دوی جګړه خوښوي او جګړه رامنځته کوي. یعنې دا چې سیاست ټول دروغ و، د سیاسیونو خبرې هم دروغ وې، وعدې یې هم دروغ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ په ګاونډ کې څو کورونه هم وو، دوی یهودان وو. له جګړې مخکې ضد یهودي مفکوره په جرمني کې خپره شوه چې ډېر یهودان هم پکې ووژل شول، په دوی کې زما د ماشومتوب ملګري هم وو، زه چې ځوان شوی وم، دوی هم لوی شوي وو. دوی ترډېره ډارېدل او دې ده آماده کېدل چې جرمني پرېږدي خو حالات ډېر ستونزمن شوي وو، په دوی کې زما ترټولو نږدې ملګری جوزف و. دی زما د ماشومتوب د لوبو وخت ملګری و، کله چې نازیانو د یهودانو په وژنه لاس پورې کړ، زموږ په شاوخواوو کې یهودان ګاونډي وتښتېدل، یوازې د جوزف کورنۍ پاتې شوه.

یوه شپه مې په زړه دي چې د اېس.اېس مامورین راغلل او د دوی کور ته ننوتل. زه په بېړه ور ووتم، مور مې ویده وه. بهر زغره‌وال ګاډی ولاړ و او ترڅنګ يې عسکر وو، ما یوه عسکر ته وویل چې څه خبره ده، هغه وویل چې راپور راغلی چې دلته یهودان اوسیږي.

ما ورته وویل: د دوی عاقبت به څه وي، دوی خو څه نظامي فعالیت نه درلود.

عسکر غوسه شو او د ټوپک میل یې راته ونیو، ویې ویل: ژر دې کور ته ننوځه کنه په دې تور دې نیسم چې له یهودانو سره همکاري کوې، سزا به دې اعدام وي او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ووېرېدم خو ژر مې ځان را کنترول کړ، موسک شوم، ورته ومې ویل: گوره د وطن سرتیریه، راځه ما ډېر ښه شراب پیدا کړي، مېلمه به دې کړم. تر هغه چې دوی پلټنه کوي، زه او ته به شیدې سره وڅښو. آرام اوسه.

شاته یې وکتل چې نور عسکر په خپلو کې خبرې کوي، له ما سره غلی غلی د کور دروازې په لور راغی. زه ژر ورغلم او د شرابو بوتل مې راوړ، گیلاس مې ورته ډک کړ. ومې ویل: نو ته څه فکر کوې چې د یو څو خائنو یهودانو لپاره دې ټول یهودان ووژل شي؟ (په داسې حال کې چې زه لا تراوسه نه پوهېږم چې نازي رژیم ولې یهودان وژل)

په خبره مې پېښېمان شوم، زړه کې مې وویل چې خیر دې نشته، ممکن ودې نیسي او اعدام دې کړي.

عسکر گیلاس له خولې لېرې کړ، پاس شونډه یې لمده وه، په غوسه یې وویل: که دا خبرې دې نورو کسانو مخکې وکړې نو ځان ته دې ستونزه جوړه کړه. آیا ته خبر یې چې یهودان څومره د جرمني لپاره خطرناک دي؟ فقط د جرمني لپاره نه د ټولې نړۍ لپاره!

ما وویل: هغه څنگه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر وویل: دوی وايي چې فقط موږ انسانان يو او دا نور انسانان زموږ غلامان دي. دوی جرمني خپل وطن نه ګڼي.

ما ډېرې خبرې زړه کې لرلې، ښه ځواب راسره و خو وېرېدمر او غلی پاتې شومر.

ما له يهودانو سره وخت تېر کړی و، جوزف مې نږدې ملګری و، هغه به ګیلې کولې چې د دوی ځینې یهودان رښتیا هم متعصب دي خو ټول داسې نه دي. هغه ډېر ښه انسان و او ډېر رحمدله هلک و.

متعصب خلک په ټولو طبقو کې پیدا کېدای شي خو آیا موږ اړ یو چې دوی ووژنو؟ د یو انسان وژل داسې عادي وګڼو؟

زه نه پوهېږمر چې نازي دولت ولې فکر کولو چې د خلکو په وژلو به یو فکر له منځه ځي؟ که چېرته سړی د کومې مفکورې سره نه وي جوړ، د جوړجاړي له لارې هم تفاهم سره کېدئ شي. د یوې مفکورې د پلویانو وژل خو دا مفکوره نوره هم ځواکمنوي. یهودیت خو بیا فقط یو دین و لکه موږ عیسویان چې یو یا هم مسلمانان.

زه د جوزف لپاره سخت خپه ومر، کله مې چې بهر له هغه عسکر سره شراب څښل، په زړه کې مې توپان و او سخت وېرېدلی ومر چې له جوزف سره به څه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو دقيقې وروسته مې وليدل چې د جوزف کوچنۍ خور او ورسره مور پلار يې لاس تړلي له کور راوباسل. په دوی کې جوزف نه و، د بوډا پلار مخ يې وينې شوی و او داسې ښکارېده چې د کوچنۍ لور په مخکې يې شکنجه کړی دی.

ووېرېدلم، فکر مې وکړ چې په جوزف څه شوي؟

نږدې وه چې بې کنتروله شم او د کور په لور يې منډې ور واخلم خو عواطف مې پرېنښودل چې راباندې زورور شي. بې حرکته ولاړ وم.

کله يې چې د جوزف مور او پلار د پوځي موټر شاته ډالې ته پورته کول نو د کوچنۍ خور سترګې په ما کې خښې وې چې ګيلاس مې په لاس کې دی. څومره له نا اميدۍ او وېرې ډکې سترګې؟ داسې سترګې چې د دنيا قانون ته حيرانې وې چې بالاخره څه روان دي؟ او ولې روان دي؟ فکر به يې کړی وي چې الکساندر د شرابو پياله څښي په داسې حال کې چې مورډ يې مرګ ته روان کړي يو؟ اصلاً دې کوچنۍ سوفيا څه ګناه درلود؟

ځان مې کنترول کړی و او بې حرکته ولاړ وم، عسکر چې شراب څښل پياله يې راته نيولې وه خو زه فکرونو ډوب کړی وم، ويې ويل: ستا نوم څه و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژر مې ځان راسم کړ، ومې ویل: الکساندر.

- له مېلمه پالنې دې مننه، الکساندره! خو بل ځل دې له خولې او خبرو سره پام کوه.

زه غلی وم، او منتظر وم چې دوی لاړ شي. د دوی موټرو حرکت وکړ، پناه شول. ما پیاله وغورځوله او د جوزف د کور طرف مې منډه کړه، په ټولو کوټو وګرځېدم خو څه درک مې پیدا نکړ. چیغې مې وهلې: جوزفه!

خو جوزف نه و.

بهر راووتم، سر مې په لاسونو کې نیولی و او کېناستم.

څو شېبې بې حرکته وم. فکر مې وکړ چې جوزف ممکن تښتېدلی وي خو بیا راپه زړه شوه د دوی د اهلي حیواناتو کوټه له کور څخه تقریباً سل قدمه لېرې وه، هلته مې منډه واخیسته، دروازه مې خلاصه کړه، جوزف جوزف مې چیغه کړه خو څوک نه وو.

وروسته د بوسو انبار وخوځېد، جوزف ترې راووت. په اختیاره په ژړا شوم، په غېږ کې مې ټینګ ونیو. هغه هم ژړل او سوفیا سوفیا یې ویل، خپله کوچنۍ خور یې یادوله چې څه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه غلی شوم او غلي مې وويل چې عسکرو بوتله، جوزف په ژړا و.

په دې شپه کې کوټې ته روښنايي راغله او له بهر څخه چا لوی څراغ را اچولی و، ژر مې جوزف پټ کړ. بهر ووتم چې ومې ليدل هماغه عسکر له نظامي وسايطو سره بېرته راغلي وو، د دروازې مخې ته هماغه عسکر ولاړ و چې مخکې مې شراب ورسره څښلي وو، ويې ويل: الکساندره دلته څه کوې؟ ته بايد کور کې وئ.

زما له خولې هسې ګډوډې ووتې. عسکر ووېل: دننه څوک دي؟

ما ووېل چې هېڅوک هم نشته.

- ښه نو چې څوک نشته نو ښه خبره ده.

بل عسکر ته يې اشاره وکړه، هغه د ګاز غټې ډبې شاته اچولي وې، برنل ته يې اور ورته کړ او د کوچنۍ کوټې په لور يې ونيو. د وسلې له خولې تېز اور ووت او په ثانيو کې يې په کوټه اور بل کړ. ما چيغې نشوې کولی فقط مې ژړل، زما په مخ کې يې هغه کوټه ټوله وسوه چې د جوزف په ګډون دوې غواګانې او څو چرګان هلته وو.

هاخوا د موټر له شاته برخې څخه د جوزف د خور او مور چيغې او ژړاګانې هم راتلې خو دوی بهر څه نشول ليدلی، شايد د اور لمبو غږ يې اورېدلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوټه اور بلېده، ما ژړل، عسکر راته کتل او حتی د د يوې ذرې په کچه يې زړه سوی هم په سترګو کې نه ليده، Kar-98 ټوپک باندې يې خولې ته په کونداغ ووهلم او له خولې مې وينې روانې شوې، يو غاښ مې هم مات شو.

عسکر وويل: د مېلمه پالنې له امله دې د يهودو سره د همکارۍ په تور نه نيسم، کنه کولی شم چې سبا دې د يهودانو سره په همکارۍ اعدام کړم.

موټرونو حرکت وکړ. زه بې حرکته وم، نشوم خوځېدئ ما شوک خوړلی و، کليوال راورسېدل. بې سېکه شوی وم، کله چې را په خود شوم فکر مې وکړ چې خوب و، په خپله کوټه کې ويده وم خو ژبه مې غاښ ته نږدې کړه، غاښ مې نه و، نو په ژړا شوم. خوب نه و، دا رښتيا وه.

مور مې کوټې ته راغله، هغې هم ژړل، دواړو ژړل نور مو څه نشول کولی.

د ادبياتو زموږ له زړونه د حباب په څېر نازک کړي وو، موږ د مېړي مرګ نشو کتلی او دوی زما په مخ کې ژوندی انسان وسوځاوه او يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومه او دوه د زاړه عمر کسان يې زما د سترګو په وړاندې د مرګ په لور روان کړي وو.

دا زما په ژوند کې لومړی ځل و چې مرګ مې مخامخ ولید، هغه هم عادي مرګ نه، بلکې د انسان مرګ په داسې شکل سره چې هغه يې ژوندی وسوځاوه.

زه دوې اونۍ په شوک کې وم، تبه مې وه، ذهني کشمکش سره مخ شوم، موږ ولیدل چې د یهودانو ډلې ډلې يې د مرګ په لور روان کړي وو. انسان څومره احمق دی، د سیاسي موخو لپاره څه او څه نه کوي؟

د جوزف په کور پسې يې لوی لوی وسایط راوستلي وو او کور يې ورته وران کړی او له خاورو سره يې خاورې کړ.

څو کلونه تېر شول، د شرابو یو ګیلاس زما ژوند ژغورلی و کنه زه هم په اعدام محکوم وم. د جرمني وضعیت ورو ورو بې خونده کېده. د پخوا په څېر د نقاشیو نندارتونونه او د موسیقۍ هغه خوندور کنسترونه هم نه وو. ټول یوازې د دولت د ګټو په انحصار کې شوي وو، د داستانونو لیکل او خپرول کلک تعقیب کېدل، هرڅه سانسورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالات پسې خرابېدل چې يوه ورځ خبر شوو چې د جرمني په پولنډ برید کړی دی. په دې ترتیب جګړه پسې لویه شوه او په لویه تباهۍ واوښته.

په ۱۹۴۲ کال کې د ویرماخت د جلب کاغذ راپسې راغی او زه جګړې ته وغوښتل شوم، کله مې چې مور خبره شوه نو سخت سخت یې ژړل، هغې پخوا هم شاید دې ته ورته کاغذ لیدلی و چې په مېړه پسې یې راغلی و خو دا چې پخوا یې مېړه له جګړې نه و راستون شوی، دا ځل یې ممکن زوی هم نه و راستون شوی.

په ما ډېر فشار و، سخت خپه وم. زموږ ځینې ملګري چې تېروتي وو، دوی ویل چې دا ویاړ دی چې یو څوک دې د خپل وطن لپاره وجنګیږي خو زه پوهېدم چې سیاست څه دی او څرنګه انسانان په خبرو غلطوي، د وطن او ملت په نوم یې د مرګ په لور بیایي.

چاره نه وه، په آخر ځل مې چې مور ولیده، هماغه وخت و چې خدای پاماني یې راسره کوله او زه د پوځي کمپ په لور ورڅخه لاړم. ډېر بد احساس وي چې کله د یو داسې چا څخه رابېلیږې چې د ژوند په هر څه کې دې ونډه لري او تل یې دربانديې شفقت کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوځي کمپ کې يې ۴ مياشتې تمرين راکړ، زه يې د شپږم پوځ سره يوځای د ستالينګراد په لور واستولم... زه چې په هغه نظامي کمپ کې وم، ډېره راته ستونزمنه وه. ډېر سخت تمرين و، په پيل کې يې بې حده په تکليف کړی وم خو وروسته ورسره عادت شوم. د ټوپکو د چلولو زده کړه يې راکړه او نورې نظامي نکتې يې هم په څو مياشتو کې را زده کړې، سخت سخت تمرينات يې راباندې وکړل. څو اونۍ مې د عضلاتو درد نه قرارېده.

په دې کمپ کې موږ ته د جګړې ټول تکتيکونه راوښودل شول.

به ما ډېرو شيانو ته توجه کوله، ټانکونه، الوتکې، ټوپک، ماشينګنې، برنلونه او ډېر غټ غټ وسايل چې ټول د جګړې لپاره جوړ شوي وو. ما فکر وکړ چې دومره لوی لوی کشفونه او نوښتونه فقط د جګړې او انسان وژلو لپاره دي؟

دولتونو تل په وسلو مصرف کړی، وسلې ډېر لوی مصرف غواړي او جالبه دا ده چې د يو انسان د نس مړول او د يو هېواد د خلکو د لوږې له مينځه وړل دومره مصرف نه لري. ممکن له دې څخه لس ځله کم مصرف ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې د سیاسیونو په اړه فکر کاوه چې ولې جګړې ته دومره لېواله دي؟ د جرمني خلک رښتیا هم ډېر زیارکښ وو، دوی په وسلو او تکنالوجۍ کې ډېر نوښتونه کړي وو، خو دریغه چې دا نوښتونه د جګړې لپاره نه وای او د یو داسې څه لپاره وای چې انسان یې آسوده کولی.

د نظامي تمرین په موده کې مې د ریلټانکونه ولیدل چې د یو لوی تعمیر په څېر به د ریل به خط باندې تلل، دا دومره لوی وو لکه په ښار کې لوېې لوېې ودانۍ، غټې خولې به یې وې او غټې غټې مرمۍ به یوې خوړلې. یوه ورځ زه د یوې لوېې مرمۍ/ګولۍ ترڅنګ ودرېدم، پام مې شو چې اوږدوالی یې له ما ډېر دی. نو د دومره لویو لویو مرمیو رامنځته کول او په دوی باندې د سلګونو یا هم زرګونو کسانو مصروفول چې دا جوړې کړي او له جوړولو وروسته یې د خلکو وژلو لپاره وکاروي... ماته خو لېونتوب مالومېده!

سیاسیون د ارګ او سلطنتي ماڼیو پرځای باید لېونتونونو ته واستول شي ترڅو ذهني معالجه یې وشي. دوی بیچاره ګان ناروغان دي نو آیا موږ اړ وو چې د څو ناروغانو له امله په زرګونو او ان میلیونونه کسان د جګړې په اور کې سوي وای او د جنګ جبهې ته تللي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال چې د کارګر کتابچې ته ځير و، د هغه خاطرې يې مطالعه کولې، اربړمی/فاجه يې وايوست. خوب ورغلی و، ديوالي ساعت ته يې وکتل، کتابچه يې يوه لور ته کېښوده او د خپل کټ په لور لاړ چې ويده شي. بهر يې افسر ته غږ کړ، افسر راغی، ډګروال ورته وويل: هغه ناروغ جرمنی اسير وګوره چې څنګه دی، که نه وي ښه شوی، يو څه درمل او ګرم سوپ يا چای ور وړه.

افسر حيران شو، اطاعت په توګه يې نظامي سلام وکړ او ووت. افسر د يوې پيالي چای او يو څه درمل په لاس سره د خيمې په لور لاړ، هلته يو بل عسکر و، هغه وويل: څه کوې؟

- ډګروال صاحب وويل چې پام پرې وکړم.

- جالبه ده، چې دا ولې؟

عسکر چې درمل يې لاس کې وو، اوږې يې پورته کړې او کارګر(الکساندر) يې له خوب راويښ کړ، الکساندر ته يې په ماته ګوډه جرمنۍ ژبه وويل: درمل درمل، چای.

الکساندر حيران حيران کتل، زخمي مخ، خيرن ږيره ويښتان او تړلی سر.

پياله يې ترې واخيسته او د شربت سر يې خلاص کړ. شربت يې وڅښه، په جرمنۍ يې وويل: زما کتابچه څه شوه؟ خو روسي عسکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په خبره نه پوهېدل. وينې سر يې په لاسونو کې ونيو او زګيروی يې وکړ. ببرته ژر پرېوت او څملاست.

لږ وروسته نور کارګران هم راغلل په کټونو کې تقسيم شول.

شپه سهار شوه. چيغه شوه، ټول کارګران راجګ شول، وارخطا منډې وې او ټولو بوټونه په پښو کول چې د کار په لور لاړ شي، الکساندر هم په ډېره ستونزه په خپل ځای کې کېناست، د خپلو بوټانو مزي يې ترل. دی آخري کس و چې لا نه و پورته شوی، افسر راغی او چيغه يې ورباندې وکړه، ای مرداره نازي! ژر کوه څه ته منتظر يې؟

غوښتل يې چې د د اوسپنې په ډنډه يې ووهي، الکساندر خپل دواړه لاسونه د ځان د دفاع په موخه خپل مخ او سرته ونيول چې زيان ور ونه رسيږي، خو بل افسر په روسی ژبه غږ وکړ: مه کوه، ډګروال صاحب ويلي چې له ده سره ډېر زور مه کوئ.

الکساندر په روسی ژبه ډېر لږ پوهېده خو حيران شو چې ولې يې ونه وهلو، له ځايه پورته شو او د کار په لور ګوډ ګوډ لاړ.

ډګروال بيا هم په هماغه اوسپنيزه برنډه ولاړ و، دوربين ورسره و او د کان ننداره يې کوله چې بنديان په کې بوخت وو. افسر يې هم څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته درېدلی و، ډګروال وویل: آیا کولی شې هغه جرمنی چې پرون ناروغ و او تا درمل ور وړل راوښیې؟

افسر خپل دوربین راواخیست او ویې ویل: صبر وکړئ صاحب، زه به یې درته پیدا کړم. په دې کان کې په سلګونه کسان لګیا وو، څو دقیقې یې دوربین کې هاخوا دېخوا کتل، بالاخره یې وویل: هاغه دی!

ډګروال ته یې وویل: صاحب، د هغه زېړ رنګ بلډېزور سره چې څو کسان ښکاري، په دوی کې یو دی سر یې په سپینه ټوټه تړلی.

ډګروال دوربین کې ولید: سمه ده، ومې لید.

افسر وویل: صاحب، بې ادبي یې مه منئ، ولې له دې کس سره خواخوږي څرګندوئ؟

ډګروال غلی و، ویې ویل: دا زما خپل کار دی چې له چا سره خواخوږي کوم یا یې وژنم.(لږ غلی شو) بیا یې وویل او دا مې هم خپل کار دی چې یو څوک له دې اوسپنیزې برنډې څخه لاندې واچوم چې ډېر غږېږي.

- بښنه غواړم که بې ادبي مې کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال بېرته د کوټې په لور لاړ، د الکساندر د خاطراتو کتابچه یې راخلاصه کړه:

... تر ستالینګراډ پورې زموږ تګ څو اونۍ وخت ونیو، جرمني هم د هوا له لارې او هم پیاده ستالینګراد بمباروله. زموږ مسیر له جرمني څخه پولنډ ته، له پولنډ څخه اوکراین ته چې له کیف او خارکیف څخه هم تېر شو، ورپسې جنوبي روسیې ته ورسېدو، په لاره کې لا هم کوچني او لوی مقاومتونه وشول خو زموږ کاروان له جګړې سره مخ نه شو. دلته سخته جګړه تېره شوې وه. ما په ټول ژوند کې هم د جګړې لومړی کربښه نه وه لیدلې، ما چې دا حال ولید چې په سلګونه او ان زرګونه کیلومتره ساحه ټوله جګړې سوې وه. موږ په زغره‌والو ګاډیو کې مخ پر وړاندې روان وو. څومره چې ستالینګراډ ته نږدې کېدلو همدومره ساحه سوځېدلې ښکارېده.

زموږ سره مل سرتیري د جرمني پوځ عالي او ښه روزل شوي عسکر وو، ممکن زما په څېر ډېر لږ کسان داسې ورسره راغلي وي چې د ویرماخت جلب کاغذ پسې راغلی وي. د ویرماخت عسکرو اخلاق داسې نه وو لکه د اېس.اېس یا ګوستاپو مامورینو، دا مامورین قصابان وو، دوی ته انسان د مچ غوندې اهمیت هم نه درلود. څو ځلې مې دا هم اوریدلي دي چې هغه وخت چې هېټلر په پولنډ برید وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولنډیان ډېرى خوښ وو ځکه دوی له کمونیزم څخه نفرت او ډار درلود خو د جرمنانو څخه هغه وخت پولنډیان زړه توري شول او مقاومت یې پیل کړ؛ کله چې د اېس.اېس او ګوستاپو لنډغرانو عامه خلک او په ځانګړي توګه یهودان شکنجه کول.

د ستانلنګراد په لور زموږ تګ په داسې نورماله آب و هوا کې و چې شاخوا هرڅه شنه او تازه وو، هوا معتدله او خوندوره وه خو د جګړې ډار له خلکو د آب و هوا ښایست هېر کړی و.

ستالینګراد ښار ته لسګونه کیلومتره لاره پاتې وه، نږدې شوي وو چې له لېرې مې د تورو لوګیو انبار په آسمان کې ولید چې له ښار څخه خیژي. له موږ مخکې په زرګونه عسکر ښار ته ننوتلي وو، موږ د پوځ وروستۍ برخه کې وو. د جرمني الوتکې په ښار ګرځېدې او له لېرې د بمونو غږونه اورېدل کېدل.

څو ساعته وروسته ستالنګراد ښکاره شو، اصلي ستونزه دا وه چې د دې ښار په هره ودانۍ او کوټه په کوټه جګړه وه. روسانو داسې پټنځایونه جوړ کړي وو چې له تصور لېرې خبره وه. د بېلګې په توګه که چېرته د ښار په کومه کوڅه کې بې احتیاطه ګرځېدلې نو ممکن په څو شېبو کې د سناپیر ښکار شوی وای چې له امله به یې د نوم ترڅنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (اروانښاد) لقب در زيات شوی وئ. بده يې لا دا چې قاتل به دې هم په خپلو سترګو نه وای ليدلی.

موږ ته امر وشو چې د ښار په څو سوه متری کې پړاو واچوو او بايد تر شپې پورې ښار ته له ننوتلو ډډه وکړو. زه دې ښار ته حيران وم چې په زرګونه بمونه له پورته پرې اچول کېدل او په داخل کې يې هم په زرګونه جرمنان په جګړه لګيا وو خو بيا هم د سختې جګړې خبرونه رارسېدل.

تر هغه مې حتی په يو کس هم ډز نه و کړی، هسې به مې د ډزو تظاهر کاوه خو څوک مې نه ويشتل. د جګړې په ترڅ کې موږ فکر کړو چې د ښار دا برخه به نوره له دښمن څخه پاکه شوي وي، دا معجزه وه چې د جګړې په ترڅ کې ما تر اوسه په هېڅا هم ډز نه و کړی او تر اوسه داسې هم نه وو پېښ شوي چې له ما سره دې مخامخ کوم د دښمن عسکر مخ شي چې زه مجبور شم ډز پرې وکړم.

ماښام ته نږدې، په ورانو شويو بلاکونو کې کوټه په کوټه ګرځېدم، ټوپک راسره و، زه او بل ملګری راسره و، هغه اشاره وکړه چې دی ښي خواته کور ته ننوځي او زه چپ لور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ښي خواته اپارتمان ته ننوتم، زړه مې درز وکړ ځکه فکر مې وکړ چې دلته که څوک ووينې نو آيا ممکنه ده چې ډز به پرې وکړي؟ که ډز ونه کړي نو وژل کېږي... د شاعر لپاره دوه انتخابه شول: يا به خپله وژل کيږي، يا به بل انسان وژني!

دهليز کې ورو ورو گرځېدم، لومړۍ کوټې ته ورننوتم، څوک نه وو، دويمې کوټې ته هم ننوتم، پام مې شو چې هلته په سلگونه کتابونه خواره واره پراته دي. د ټانک مرمۍ را ننوتلي وه، د کتابونو الماری ترڅنگ تېره شوي وه او ډېره برخه کتابونه يې له ځان سره خواره واره او سوي وو.

شاوخوا څو نقاشۍ هم په دېوالونو ځوړنده وې چې په روسي سبک نقاشي شوې وې، د جگړې په دې بدمرغه حالت کې شاوخوا دې فقط انسانان وژل کيږي، د يوې عالي نقاشۍ ليدل عجيب احساس لري. نقاشۍ ته ځير شوم، ټوپک مې شاته وتاړه او نقاشۍ ښکلا او جذابيت ته سوچونو يووړم، وروسته مې دويمه نقاشي هم په ځير وکتله، څو شېبې ورته ځير وم. ډېر زحمت پرې ايستل شوی و، د ملگري غږ مې راغی: څوک شته؟

- نه، دلته څوک نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- راوځه نو څه کوې؟

- ته لاړ شه، زه درځم.

د کتابونو لوی آلمارۍ ته ځير شوم چې نيم کتابونه يې د ټانک په مرمۍ کې تللي وو، اکثره يې په روسي ژبه ليکل شوي وو. ناڅاپه مې يو کتاب ته پام شو چې لړ وښوربېد. زړه مې ودربېده، ټوپک مې د کتابونو په لور ونيو. پوه شوم چې کوم څوک د کتابونو شاته په څه ترتيب سره پټ شوي دي. وارخطا شوم، د ټوپک ګېټ مې کش کړ، په جرمنۍ مې وويل: راووځه څوک يې؟

ناڅاپه په لسګونه کتابونه والوتل، راباندې را ړنګ شول، د کتابونو له شا څخه يو نفر راټوپ کړ او زه يې چپه کړم، خنجر يې په لاس کې و. زه چې نيم په کتابونو پوښلی وم، په سر مې هغه کس را کېناست او خپل تېره خنجر يې زما مرۍ ته برابر کړی و او زوررونه يې وهل.

ما د مرستې غږ وکړ، څوک رانغلل.

ما هم فشار وارد کړی و چې خنجر مې ستونی پرې نه کړي او مقابل کس هم له خپل پوره ځواک څخه کار اخيست چې ومې وژني.

ما په ډېره خوارۍ خپل ښی لاس خلاص کړ، خپلې توپانچې ته مې لاس کړ، توپانچه مې لاس ته راغله، له لاندې لور څخه مې مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوري ته ونیوه، زړه مې نه کېده چې ډز وکړم، د خنجر زور نور هم ډېر شو، یا به یې وژلم او یا به مې واژه!

څو ثانیې مې زړه ونشو چې ډز پرې وکړم، ناچاره شوم. ماشه مې ټینګه کړه، ډم شو، نفر یې خواته ولوېد، وینې یې زما په پوځي یونیفورم تویې شوې.

لړزې اخیستی وم، لومړی ځل مې و چې انسان مې وواژه، د هغه مړي ته مې کتل چې رډې سترګې یې پورته لور ته نیولي دي او لړزېږي.

نور عسکر راورسېدل، ژر ژر د کتابخانې شاته لاړل چې نور څوک نه وي. زه له ځایه جګ شوم، لاسونه مې لړزېدل. یو سرتیري چې زما حالت ولید، ویې خندل، سر یې وښوراوه، په پیغور شکل یې وویل: جګړه د مېړنیو کار دی!

د خپل ټوپک میل یې د وژل شوي روسي په لور واړوه، په مخ باندې یې شاجوره پرې خالي کړه، زه شوک شوم او ټوپ مې واچاوه. د کوټې کونج ته ننوتم او لړزې اخیستی وم. بیا یې وویل: دا بېغیرته درسره راولئ.

ورځې به سبا کېدې، موږ به کوټو په کوټو، کوڅو په کوڅو، بلاک په بلاک له روسانو سره جنګېدلو. د وخت په تېرېدو سره مې دویم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیم او ان بې شمېره عسکر ووژل، ناچاره وم، د ځان ساتنه یوه غریزه وه، ځو ځله ټپي شوم خو سطحي ټپونه وو.

وژل راته عادي شول، هغه نرم او سوله‌ایز الکساندر په وحشي الکساندر واوښت، پخوا به یې انسانان د ټوپک په مرمۍ وژل خو اوس یې د خنجر په واسطه ښه وژل کولی شول خو یوه خبره وه: تر اخره یې د چا له مرګ څخه خوند وانخیست.

ما به په خپل شاوخوا کې هغه عسکر هم ولیدل چې زما په څېر له جګړې څخه ډارېدل خو د وخت تقاضا داسې وه چې باید وحشي شوی وای، باید وژونکی حیوان درنه جوړ وئ، یو داسې ځوک چې په زړه کې یې هیڅ رحم هم نه وي.

ځو ځله بمبار وشو، په عامه وګړو به وحشت ګډ شو، وبه وژل شول: لس نه، سل نه بلکې په زرګونه کسان ووژل شول. ترټولو ډېر مقاومت د ترکتورونو د تولید په فابریکه کې وشو. زه د هغه جګړې شاهد نه وم خو ما ولیدل چې د ویرماخت زرګونه عسکر د دې سیمو په لور تلل.

د کور په کور عملیاتو په ترځ کې یوه ورځ موږ د اېس.اېس له مامورینو سره په شخړه واوښتو. زموږ لس کسیزه ډلګی یې د یوه بلاک په لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

واستوله، څو کورونه مو له دښمن څخه پاک کړل، هلته ملکیان هم وو خو موږ له دوی سره کار نه درلود، که څه هم موږ ته ویل شوي وو چې باید ټول ووژنئ ځکه ملکیان هم خطرناک دي خو ما شخصاً کوم ملکي کس نه دی ویشتی.

موږ په دریم منزل کې په تلاشۍ لګیا وو چې د زغره‌وال ګادي غږ راغی، له کړکي مو لاندې په احتیاط وکتل چې اېس.اېس راغلل.

دوی هم کور په کور ګرځېدل. څو لحظې نه وې تېرې شوي چې د ماشومانو او ښځو د ژړا او چیغې راغلې، دا چیغې او ژړاګانې بیخي معمول وې خو په دې کې د ښځو زاریو غږونه هم وو، ژر ورکوز شوم، ومې لیدل چې په دویم منزل کې په یوه اپارتمان کې اېس.اېس کسانو یوه کورنۍ یوې کوټې ته ایساره کړې ده چې ښځې ماشومان او یو بوډا هم پکې و.

دوی خپل برنر تیارولو او غوښتل یې چې ټول ژوندي وسوځوي، زه ور ورسېدم، دوه ملګري هم راسره وو. ما غږ پرې وکړ: افسره! دوی نظامیان نه دي، ملکیان دي او دا ساحه زموږ تر کنترول لاندې ده، تاسو اجازه نه لرئ چې دلته عملیات وکړئ!

نازي افسر په غوسه راوکتل، ته څوک یې چې ماته لاره ښیې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تە نشې کولئ چې دوی ووژنې او زموږ پە ساحە کې پە خپل سر کار وکړې.

لە دې خبرې سرە د برنر خاوند زە ټیل وهلم، دلتە زموږ نور ملګري هم راغلل، تعداد مو مساوي شو. هلتە مو چې د ماشومانو سوځېدلي او بیچارە مخونە کتل، د ښځو ژړاګانې، پە دوی کې څو روسی ښکلي پیغلې هم وې چې د واورې پە شان سپینې وې. ټول لە وحشت څخە لړزېدل.

د دوی مخونو زموږ ترحم راپارولو.

ما بیا هم اسرار وکړ: ګورە افسرە، زما ټپل وهم او زما ګواښل حل لارە نە دە، زە وایم چې دا بلاک موږ ټول تالاشي کړی، نظامیان نشتە او نە هم د مقاومت څوک دلتە پاتې دي، دا ځای تصفیە شوی او زموږ تر کنترول لاندې دی.

خو دوی د خبرو پرځای کنځلې کولې، څو ځلە یې زە او زما ملګري ټپل وهل. زموږ حوصلە نورە ختمە شوە او د ټوپک پە کنداغونو مو شخړە پیل کړە، دوی مو سخت سخت ووهل او اجازە مو ورنە کړە چې ملکیان پە برنر وسوځوي، دوی مو داسې ووهل چې د څو کسانو لاسونە او سرونە مو مات کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ومو ویل چې ژر دې خپل کار پسې لاړ شي. دوی وتښتېدل خو مونږ ته یې ګواښ وکړ چې دا کار مو بې ځوابه نه پاتې کیږي. مونږ له بلاک څخه ووتو، خو د تګ په وخت کې مې فکر وکړ چې اېس.اېس بېرته راځي او دوی به بیا هم ژوندي پرېنږدي. زه بېرته د بلاک په لور لاړم، هماغه کور ته پورته شوم، ماشومانو او ښځې لړزې اخیستي وو. په جرمنۍ ژبه مې وویل: چېرته پټ شئ. بیا مې په لاس اشاره وکړه چې پټ شئ ځکه ممکن اېس.اېس بېرته راشي.

فکر مې وکړ چې پوه نشول خو په دې ترڅ کې یوې پېغلې چې طلایي ویښتان او شنې سترګې یې وې، په جرمنۍ ژبه وغږېده: سمه ده، مونږ پوه شوو.

زه حیران شوم چې په جرمنۍ وغږېده، ما ورته وویل: ته په جرمنۍ پوهېږې؟

- هو، پوهېږم.

فکر مې وکړ، چې ممکنه جاسوسه وي ځکه ډېر ونه غږېدم ورسره، ومې ویل: ژر شئ چېرته پټ شئ او له دې ځایه لاړ شئ، دوی مو پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجلۍ چې پخوا لړزېده، په جرمنۍ ژبه يې مننه وکړه چې ما د دوی ژوند وژغوره. بيا يې وويل:

موږ پېژېږو خو که له بلاک څخه بهر ووځو نو شايد جرمنان ډزې راباندې وکړي ځکه جګړه شديده ده او د ملکي او نظامي په کيسه کې څوک نه دي. ما وويل: له ما سره راشئ، د تالاشي شويو بلاکونو په لور لاړ شئ، زه مو څارنه کوم خو پام چې کومه هوښيارتيا ونه کړئ او نه هم هڅه وکړئ چې له شوروي پوځ او جاسوسانو سره اړيکه يا هم داسې څه درسره وي چې د پوځ سره مو اړيکه اثبات کړي نو وبه مو وژني.

نجلۍ ژر ژر له خپلې کورنۍ سره وغږېده، دوی عاجل له بلاک څخه کوز شول، د تصفيه شوي سيمې په لور روان شول، زه هم ورسره مل وم. د ويرماخت يو قومندان راغږ کړ: الکساندره! دا څوک دي؟ او چېرې ځې؟

زه چې پوه شوم چې خپل‌سری کار مې کړی او بايد له دوی سره مل نه وم، ودرېدم. ومې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قوموندان صاحب! دوی یوه کورنۍ ده، باید هغه امن ځای ته لاړ شي، په تصفیه شویو بلاکونو کې واړوي، نه به موږ ته خطر وي او نه به هم دوی ته خطر پېښ وي.

ډګروال سر وښوراوه: ګوره عسکره! ته خپل سری شوی یې، اخر ځل دې وي چې داسې بې ضرورته کار دې وینم. ورسره لاړ شه خو ژر دې بېرته غواړم.

زه له دوی سره روان وم، شاوخوا ۲۰۰ قدمه هاخوا تصفیه شوي سیمه وه، روسی نجلۍ په لاره کې ځینې خبرې کولې خو زما غوږونو سم نه اورېدل، له کله نه چې جګړه شروع شوي وه، د ډزو او انفجارونو له امله مې غوږونه غیر نورمال وو.

ما چې دا کورنۍ تر امن ځایه انتقالوله، شاخوا مو د ویرماخت ځینې عسکر ځه ولاړ او ځه ګرځېدل، ځینو به بد بد راکتل، ځینو به ریشخند وهلو. په آسمان کې د الوتکو غږ راغی، زه لږ وارخطا شوم، پاس مې پام شو چې دوې الوتکې ښکاره شوې، سرعت یې تېز و، له لېرې یو عسکر چې پېژندلو مې راغږ کړ: الکساندره! مه وارخطا کېږه، لوټوافټ (جرمني هوایي ځواک) دي. دا تصفیه شوي سیمه ده، دلته بمبار نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ورته ځیر شوم، ومې ویل: فکر نه کوم چې لوټوافټ وي.

ژر مې چیغې کړې: پناه واخلئ، روسی الوتکې دي.

نجلی په روسی ژبه چیغې کړې او خپلې کورنۍ ته یې وویل چې پناه واخلي، په څو لحظو کې منډې شوې، ټول خواره واره کېدو، اول مې زړه و چې د ټانک لاندې پټ شم، بیا مې فکر وکړ چې ممکن ټانکونه بمبار کړي، وروسته مې منډه کړه او د یوې ویجاړ تعمیر زیرزمینۍ ته مې ځان ورساوه او د حالاتو ننداره مې وکړه.

هغه عسکر چې په ما یې غږ کړی و، ژر ژر ټانک ته پورته شو، ماشینګنې ته یې کیناست او د الوتکو په لور یې ډزې پیل کړې. څو ثانیې یې مسلسلې ډزې وکړې خو د الوتکو له غږ ښکاره کېده چې بمبار ته ځان تیاروي، همداسې رانږدې کېدلې. ناڅاپه یې څواکمن بمونه واچول، یو بم مستقیم په هماغه ټانک ولګېدلو چې ما فکر وکړ چې د هغه لاندې به پناه واخلم، تقدیر و که تصادف!

نور بمونه شاوخوا ولګېدل، سخت ویجاړی یې جوړې کړې، لوګي وو، څوک نه ښکارېدل. ټوخي، زګیروي او چیغې وې. څه نه لیدل کیدل، زه ژر لاړم چې وګورم چې د هغه ملکیانو څوک نه وي وژل شوي، ښکاره شوه چې هغه نږدې ودانۍ چې دوی پناه ور وړې وه، ټوله له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینځه تللي وه او دوه ځواکمن بمونه پرې رالویدلي وو او ټوله کورنۍ له مینځه تللي دي.

له ودانۍ بهر مې د يوې ماشومې لاس ولید چې پروت و، بد احساس مې وکړ. منډه مې واخیسته د ډلګۍ په لور لاړم، دوی هم زخمیان انتقالول.

بیا مې بېرته رامنډه کړه، هغه روسۍ نجلۍ راپه زړه شوه، هغه ودانۍ ټوله لویدلي وه، پوه شوم چې بیچاره ماشومان او ښځې، د یوه بوډا په شمول ټول ورلاندې شوي دي. ناڅاپه مې شاته پام شو چې یوه جلۍ به چیغو او ژړاګانو دې خواته منډې راوهي، ورځیر شوم، هماغه روسۍ نجلۍ وه چې جرمني يې زده وه وه. حالت يې ډېر خراب و، په چیغو چیغو يې هڅه کوله چې د کانکریټ لاندې د خپلې کورنۍ غړي راوباسي، نجلۍ بې هوښه شوه، ولوېده. لږ وروسته د تصفیه شویو بلاکونو څخه څو د پاخه عمر مېرمنو منډې راوهلې، داسې مالومېده چې دا روسۍ پیغله يې خپلوانه وه. ښځو په لوړ غږ ژړل، ځانونه يې راورسول، ما د اوبو بوتل خلاص کړ او د نجلۍ پر مخ مې اوبه واچولې چې په هوښ شي.

نجلۍ په هوښ شوه، شاوخوا يې وکتل، بیا يې ژړا پیل کړه، دوو مېرمنو له ځایه پورته کړه او د تصفیه شوي سیمې په لور يې له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره بوتله. زما د بوتل سر خلاص و، له شا نه یوه افسر ټېل وهلم او کش یې کړم، په کنځلو یې وویل: احمقه الکساندره! دلته څه کوې، ژر ورشه د ډلګۍ کسان وژل شوي دي، انتقال یې کړه. زه ژر ډلګۍ ته لاړم او د مړیو او زخمیانو په انتقال کې مې مرسته شروع کړه.

کوم عسکر چې په ما غږ وکړ چې الوتکې د جرمني دي، هغه د سترګو په رپ کې ټانک ته وخوت، ماشینګڼې ته کېناست او د چټکو الوتکو په لور یې ډزې پیل کړې، زما په اند دا یو حماقت و. ځینې وخت چې احمق تشویق شي، دی هڅه کوي چې نورې کارنامې هم وکړې چې لا ډېر تشویق لاس ته راوړي. هر وخت هم د قهرمانۍ وخت نه وي، ځینې وختونه منډه، ځینې وختونه پټېدل، ځینې وختونه باید سړی داسې کار وکړي چې ځان خطر ته وانچوي.

زما په اند که چېرته دې سړي د الوتکو په لور ډزې نه وای کړي، ممکن له موږ هاخوا یې نور پوځي کمپونه ویشتي وای خو دا چې هغه ډزې وکړې، نو پیلوټانو هم خطر لیده او دا خطر یې په دې بمبار سره رفع کړ چې هم یې روسي ملکیان پکې ووژل او هم دی خپله پکې لاړ.

دا خبره زما یوه تجربه ده چې یو سړی باید ځینې کارونه د ځان ښودلو او تشویق لپاره ونه کړي، که چېرته د هغه کارونه مهم وي نو هغه به په غیر اختیاري توګه مشهور شي، د خلکو له هرکلي سره به مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي خو برعکس ځينې کارونه چې يوازې د ځان ښودنې په اضافي تشويق د لاسته راوړلو لپاره ترسره کيږي، پايله يې نا سمه وي چې يوه بېلګه يې د دې عسکر مقاومت و، درېغه چې هلته خو د الوتکو ضد کوم محاربوي ماشين واى چې دى ورته کېناست، احمق سړى -MG 42 ته کېناست.

ډګروال چې تر دې ځايه د الکساندر د خاطراتو کتابچه مطالعه کوله، کتابچه يې بند کړه. له ځايه پورته شو، بهر ووت. ماښام و، لمر ډوب شوى و، وريځې نارنجي شوي وې. د نظارت ځاى ته لاړ، دوربين يې راواخيست، سترګو ته يې ونيو. دا ځل يې ډېره بيړه وه. داسې ښکارېده چې په الکساندر پسې ګرځېده. خپل عسکر ته يې اشاره وکړه، عسکر راغى، نظامي سلام يې وکړ.

ډګروال وويل: الکساندر په نوم يو جرمنى دى، هغه را پيدا کړه ، زما دفتر ته يې راوله.

عسکر لاړ، ډګروال چورتونو وړى و، بېرته خپلې کوټې ته لاړ، د الکساندر کتابچه يې د ميز په الماري کې کېښوده. څو شېبې وروسته الکساندر راښکاره شو: تړلى سر، څيرې کالي، په وچه شوي وينه لړلى مخ او ږيره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر له لاس نیولی و او په ولچکو یې لاسونه ورتړلي. الکساندر هم وارخطا ښکارېده. ډګروال عسکر ته وویل: لاسونه یې خلاص کړه، حمام ته یې بوزه، پاکې کالي هم ور واغونده بېرته یې راوله.

عسکر په روسي ژبه وویل: سمه ده صاحب.

- سم پام پرې وکړه. د ږیرې پل هم ورکړه.

عسکر له الکساندر سره ووت. ډګروال بل عسکر راوغوښت، ویې ویل: شیدې او کلچې راوړه، مېلمه لرم.

نیم ساعت وروسته الکساندر راغی، روسی خولۍ او پاک کالي یې مونديلي وو، ږیره یې خریلي وه، عسکر له لاس نیولی و. ډګروال عسکر ته اشاره وکړه چې ووځي او دوی یوازې پرېږدي، عسکر ووت.

ډګروال الکساندر ته اشاره وکړه چې په کوچ کیني، په میز کلچې او چاینک هم ایښي وو. ډګروال په جرمنی ژبه وویل: الکساندره! کلچې او شیدې ستا لپاره دي، ویې څښه.

الکساندر حیران شو، د ځمکې په سر د واورې په دوزخ کې کلچې او شیدې؟ همدارنګه یو داسې کس چې پاکې کالي، د ږیرې پل او حمام درکړي بیا په جرمنی درسره وغږېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوچ لور ته غلی غلی لاړ، مودب کېناست، چاینک یې ټیټ کړ، پیاله یې له شیدو ډکه کړه. ناڅاپه یې کلچې ته لاس اوږد کړ ویې خوړه، د خوراک انداز یې تېز و، وروسته له څو کلونو داسې غوره شیدې او کلچې ور رسیدلي وه.

له شیدو یې غټ غوړپ وکړ، بېرته یې تو کړې، ډېرې گرمې وې. د بښنې په دود یې ډگروال ته وکتل، نه غږېده. لکه یو عصبي ناروغ.

ډگروال موسک شو: شیدې ډېرې گرمې دي، اجازه ورکړه چې سړې شي بیا یې وڅښه.

الکساندر همداسې د لېونو په څېر خوراک کاوه، به څو شېبو کې یې ټولې کلچې او چای وخوړ. ډگروال بیا په جرمنۍ وویل: نورې غواړې؟

الکساندر د (نه) په دود سر وخوځاوه.

ډگروال له ځایه جگ شو، خپل غټ سگرټ ته اور ورته کړ، له قوطي څخه یې بل سگرټ راواخیست او الکساندر ته یې ورکړ. الکساندر په لړځېدلو لاسونو واخیست، لاسونه یې لړزېدل.

ډگروال وویل: زه له تا سره په جگړه کې نه یم، لاسونه دې ولې لړزیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکساندر چې په اول ځل وغږېد، په ټیټ غږ یې وویل:

- ناروـ.. ناروغ یم.

ډګروال چې بهر منظره کتله، شپه شوې وه، خو لویو لویو څراغونو واورین غرونه رڼا کړي وو.تېزه واوره ورېده او په شیشه باندې مخامخ راتلله چې له امله یې شیشه خیره شوې وه، ډګروال ځان ته هم سګرټ اور کړ، ویې ویل:

- انسان غوښتل چې سوله رامنځته کړي خو کله چې پوه شو چې دا خبره ناممکنه ده او په ځمکه کې سوله نه راځي نو په یو شکل سره یې جګړه توجیه کړه. دې توجیې ډېرې مفکورې رامنځته کړې. په پیل کې بشر په کارګر او خان وویشل شو.

وروسته ملتونه رامنځته شول، ملتپالنه یې رامنځته کړه، انسانان یې سره وویشل. دې ویشنې جګړې رامنځته کړې او جګړې لا تر اوسه هم نه دي درېدلي.

ډګروال غلی شو، سګرټ یې کش کړ، غټ دود یې له پوزې او خولې څخه وایوست. بیا یې وویل:

- زه ډګروال لیاخوف یم، ما ستا خاطرات ولوستل، پوه شوم چې یو څه مشترکات سره لرو. ما هم له لومړۍ جګړې پخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتل چې یو ښه لیکوال شم، د اروپا په سطحه د ادبیاتو یو لیکوال، کورنۍ به مې ویل چې زه نابغه یم او باید ساینس‌پوه شم ځکه په ۱۸ کلنۍ کې مې درې ژبې زده کړې وې. زما له ژبو سره ډېره علاقه وه، ما موخه درلوده چې باید د اروپا مشهورې ژبې زده کړم، تردېره مې زده هم کړې. له جرمني او انګلیسي علاوه، ایټالیایي، هسپانوي او ترکي ژبه مې هم زده دي، ښې خبرې او لیکل پرې کولی شم. عربي او ترکي کې لږ لټ یم خو بیا هم لوستل پرې کولی شم.

ما دا ژبې د دې لپاره زده کړې وې چې یو نړۍوال لیکوال شم خو د لیکوالۍ پرځای مې د جګړو په جبهو کې په درد وخوړې او دا دی د ډګروالۍ رتبه مې ترلاسه کړه. په لومړۍ جګړه کې مې دومره په درد ونه خوړې خو په دویمه جګړه کې ما ډېر ځله د محور دولتونو ځواکونه غولولي دي، په ځانګړي توګه ایټالویان، په مخابره کې په ایټالیایۍ غږېدم، غلط کوردینات به مې ورکړل، ډېری وخت هوایي ځواکونو د دوی خپل سنګرونه ویشتي دي.

په همدې مناسبت زما پوځي رتبې هره میاشت او هر کال ترفیع کوله او دا دی نن ډګروال یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبيات مې په درد ونه خوړل، شعر او ادبيات داسې څه نه دي چې د ځمکې کره دې اباده کړي، دا يوازې په ذهن کې جوړې شوي خبرې دي چې عملي کول يې ناممکن دي.

د نړۍوالې سولې نظريه هم فکر کوم ادبياتو رامنځته کړي ده ځکه خو تر اوسه عملي شوي هم نه ده. له دويمې جګړې پخوا، موږ هڅه کوله چې د ادبياتو په واسطه جګړه محکومه کړو، د لومړۍ نړۍوالې جګړې په اړه موږ ډېر ليکل وکړل خو ليکلو ګټه ونه کړه او وينو چې دويم جنګ راشروع شو.

پوهېږې ادبيات کله خوند کوي؟ کله چې د ژوند نور لومړيتوبونه پوره شوي وي او ته کينې داستان ليکل او شعر شروع کړې، دا يوازې ذهن ته ګټه رسوي او سرۍ ځوان ساتي.

ډګروال د خپلو کتابونو له الماری څخه دوه کتابونه راوباسل، الکساندر ته يې په ميز کېښودل. الکساندر په لړزېدلو لاسونو کتابونه راواخيستل، يو په انګليسي و او بل په هسپانوي. ډګروال وويل:

- دا مې په ځوانۍ کې ليکلي، ادبي داستانونه دي چې بيا مې په درد ونه خوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل میز په لور لاړ، په چوکۍ کې کېناست او پښې یې مېز ته پورته کړې، ویې ویل: تا لیکلي وو چې سیاسیون باید د سلطنتي ماڼیو پرځای عصبي شفاخانو ته لاړ شي، فکر کوم تا تر اوسه دا نه ده درکړي چې که چېرته سیاست او سیاسیون نه وي، د ټولنې واګې به داسې خلک په لاس کې واخلي چې د کارګرې طبقې غوښه او وینه به وزبیښي، سیاسیون مهم دي خو په دې شرط چې دوی بېرته په زبیښونکو خانانو بدل نه شي.

جګړه جرمني شروع کړه، موږ په چا غرض نه و لرلی خو ماته هم بېرته جرمني وخوړه. دلته شاید ته په حقه وې څکه د خپل هېواد ماتې دې ولیده څکه د خپل هېواد سیاسیونو ځای په عصبي روغتون کې وینې څکه جګړه دوی شروع کړه، جرمني د دوی له لاسه ړنګ شو او په میلیونونه جرمنان ووژل شول خو زموږ سیاسون بیا داسې نه دي چې عصبي شفاخانو ته اړتیا ولري.

الکساندر ورته څیر و، نه یې غوښتل چې وغږیږي، حیران حیران یې د ډګروال په لور کتل.

الکساندر چې تر اوسه ډېر نه و غږېدلی وغږېد: جګړه تحمیلي وه او د ټولو جرمنانو په خوښه نه وه، زه هم جګړې ته په زور ټېل وهل شوم. ټول لوري خپل خاص دلایل لري چې خپله جګړه توجیه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرمني يو څه ويل، فرانسې د دفاع خبرې کولې او امريکا د جګړې په نه ګډون کې خپلې ګټې په خطر کې ليدې. اوس زموږ خبرې نه شي کولی چې هرڅه جبران کړي او نه هم زه په انسانانو کې دومره ځای وينم چې له دې غميزې دې کوم عبرت واخلي، که موږ عبرت اخيستلی نو له لومړۍ نړۍوالې جګړې به مو عبرت اخيستی وای.

دواړه يو څه شېبه غلي وو، ډګروال د اورلګيت الکساندر ته ور ګوزار کړ چې سګرټ پرې بل کړي. بيا يې وويل: زه تاته يو امتياز درکوم، له عسکرو سره دې معرفي کوم، ډېر کار به نه درنه غواړي، په شپه ورځ کې دوه ځله ويده کېدئ شې او کوم وخت دې چې څه اړتيا لرله، ماته راتللی شې.

الکساندر د هغه په لوري حيران حيران کتل، چټک يې وويل: ما څه ښېګڼه درسره کړي چې ته دا کوې؟

ډګروال اوږې پورته کړې: ځينې وخت مجبور نه يو چې ښېګڼې ته منتظر واوسو ترڅو بېرته ښېګڼه وکړو، تللی شې.

بيا يې غږ کړ: افسره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو عسکر رانئوت، سلامي یې ووهله. ډګروال وویل: په الکساندر مو ځانګړی پام وي، د کار کالي ورکړه، هر کله یې چې غوښتل استراحت دې وکړي، ډېر کار هم مه ورڅخه غواړئ.

افسر ووت او الکساندر هم ورسره ووت. د خیمو په لور لاړ، هلته ناستو کارګرانو د الکساندر په لور په ځیر ځیر کتل چې پاک او تمیز مخ او کالي یې پیدا کړي، یو کارګر غږ کړ: عجب ښایسته شوی یې!

الکساندر غلی و.

څو ورځې وروسته د کان معاون ته یو افسر ورغی، په یو شکل سره یې ورته وویل چې ډګروال لیاخوف ځینې بندیانو ته بېځایه امتیازونه ورکوي او په بندیانو اعتبار کوي.

دوه ورځې وروسته، سهار مهال ډګروال مخ ته اوبه واچولې، مخ یې پرېمینځلو، هنداره کې خپل مخ ته ځیر شو. په مخ باندې یې یوه توره لیکه ښکارېده چې له بریتونو څخه غوږ ته پورته شوي وي. مخ یې وچ کړ. د ټیلیفون غږ راغی، له تشناب څخه ووت او په میز باندې ایښی تیلیفون یې راجګ کړ، غږ راغی: سهار پخیر ډګروال، زه کروچکوف یم ، د کارګرانو نظارت مې کاوه، داسې لیدل کیږي چې یو کارګر نسبت نورو ته ډېر امتیاز لري، کله مې چې پوښتنه وکړه نو ځواب مې ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ چې ستاسو په هدایت د هغه لپاره امتیازونه په نظر کې نیول شوي دي، آیا د هغه سوانح مو کتلي، هغه نازي عسکر و چې په ستالینګراد کې نیول شوی دی؟

ډګروال وویل: هو، په هر څه خبر یم، د ګوند غړی یا اېس.اېس نه دی، د ویرماخت عسکر و. ما امتیاز ورکړی خو ستونزه څه ده؟

- څه خاصه ستونزه نشته، یوازې مې د تدبیر او احتیاط لپاره ویل چې په نازي بندیانو اعتبار څه ستونزه رامنځته نه کړي.

- نه بې غمه شه خو که ستونزه پېښه شوه بیا زه ځواب ویونکی یم.

څو ورځې تېرې شوې، شپه مهال چې بیا هم چټکه واوره وه، ډګروال لیاخوف په خپل کاري مېز بوخت و او اسناد یې کتل راکتل، ناڅاپه د خطر زنګ ووهل شو. ډزې شوې او د عسکرو د منډو غږونه واورېدل شول.

ډګروال د خپل میز روک کش کړ، توپانچه یې راواخیسته او له ځان سره یې کېښوده، بهر ووت.

د کان له احاطې هاخوا جال چې خاردار سیم یې هم په سر و، پرې شوی و. ترڅنګ یې دوه عسکر هم په وینو لت پت پراته وو، له سیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاردار بهر څلورو کسانو منډې وهلې، داسې ښکارېدل چې بندیان وو او تښتیدلي دي. ډګروال د کان برج په لور لاړ، دوربین یې راواخیست، ډېر لېرې نه وو تللي. تېزه واوره وه، له سلو قدمونو وړاندې څه نه لیدل کېدل.

یو افسر سناپیر توپک راواخیست، سترګه یې دوربین کې ورکړه. د توپک له خولې لمبه پورته شوه. یو بندي یې وویشت او شاوخوا په نیم متر واوره کې ولوېد. عسکرو شاته منډې پسې وهلې او ډزې یې پرې کولې، سپي پسې ورخوشي شول ترڅو زندانیان ونیسي خو دوی وسلې لرله او سپي یې وویشتل، له دې لوري ډزې پرې کېدې خو موثرې نه وې، دوی لېرې کېدل، عسکر هم ورپسې وو.

درې نورو بندیانو همداسې منډې وهلې. د توقع خلاف د عسکرو یوه ګزمه له پورته لور راغله او دوی یې محاصره کړل.

څو شېبې وروسته تښتېدلي کسان د کان په احاطه کې لاس تړلي په ګونډو ناست وو، کوم یو چې وژل شوی و، د هغه جسد یې د دوی مخې ته اچولی و. په سلګونه کارګان منظم درېدلي وو او د دوی مجازاتو ننداره یې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال راورسېد، نور کارګر او بنديان هم جلا ځای کې ولاړ وو او د نيول شويو تښتېدليو بنديانو سرنوشت ته منتظر وو.

ډګروال په لوړ غږ په جرمنۍ ژبه ووېل چې ټول يې واوري: احمقانو! تښتېدلی؟ اصلاً چېرې تښتېدلی؟ له دې کان څخه په لسګونه کيلومتره لېرې هم د ژوند ځای نشته، بيا خو تاسې فاشيستانو ته بيخي ځای نشته.

تښتېدلي بنديانو ته نږدې شو، په ځير ځير يې وکتل، د هر يو په لور به ورتللو او سترګې به يې په سترګو کې خښې کړې وې.

د نورو درېدلو کارګرو په لور يې وکتل، په دوی کې الکساندر هم په لومړي قطار کې ولاړ و. الکساندر ته ځير شو، ډګروال غوسه و. توپانچه يې راوباسله، ګېټ يې کش کړ او د يو تښتيدلي بندي په تنده يې د توپانچې ميل ورکېښود. ډز شو، بندي ولوېد او وينو يې په يخ وهلي ځمکه باندې ليکه جوړه کړه، بيا يې په نوبت نور دوه کسان هم په همدې شکل سره ووژل.

بيا يې سترګې د الکساندر په لور واړولې او په سترګو کې سره پوه شول... مانا دا چې الکساندر د ډګروال له نرمۍ څخه سوء استفاده ونه کړي. الکساندر وارخطا و، عجبه وه، هغه مهربان ډګروال چې دوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې مخکې یې شیدې او کلچې ورکړې وې، نن یې په سترګو کې خبرداری ورکړ؟

سبا ورځ ډګروال د کارګرانو په منځ کې ګرځېده او د کار نظارت یې کاوه، له یو لوري څخه د کان معاون (بریدمن-سرجنټ کروچکوف) راپیدا شو، د ډګروال لیاخوف په لور راغی: ډګرواله! د پرونۍ پېښې په اړه د پلټنو لپاره ممکن د مرکزي کمیټې کوم غړی راشي، څه ځواب وایو؟ او که وپوښتم چې هغه نازي عسکر ته چې تاسو امتیاز ورکړی و، که چېرته هغه د تښتېدلیو عسکرو سره څه مرسته کړې وي؟

ډګروال په دسمال خپله پوزه پاکه کړه، ویې ویل:

- سرجنټه! درېغه چې یو داسې خبرې دې کولی چې امکان ته ورنږدې وئ او ما ویلي وای چې افرین ته ځومره دقیق یې! که هغه په دې پېښه کې همکاري کړې وای نو ولې دی نه ورسره تښتېده؟

- ستاسو خبرې سمې بولم ډګرواله، خو باید پام دې وي، دوی فاشیستان دي، په یو بل یې هر ډول همکاري لورېږي.

ډګروال هېڅ ځواب ونه ویل، ځای یې پرېښود.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډګروال په دفتر کې لوړ رتبه جنرالان او چارواکي ناست وو، په دفتر کې د سګرټو لوګي وو، د شرابو بوتلونه په ګرد مېز ايښي وو، د بحث په منځ کې يو لوړ رتبه جنرال، ډګروال لياخوف مخاطب کړ: ملګرى لياخوف، تاسو د شوروي لپاره لويې قهرمانۍ کړي دي او که نن ورځ ملګرى ويلاديمير لينن ژوندى واى نو په تاسو به يې افتخار کړى واى خو عمر چې څومره ډېرېږي جسم ارام ته اړتيا لري، انسان يو څه ضعيفېږي...

له دې خبرې سره بل جنرال د ډګروال لياخوف په لور وکتل او د خبرو په ادامه يې وويل: د ضعف ترڅنګ په انسان کې يو څه ترحم هم پيدا کيږي چې دا ترحم يې بيا ستونزې جوړوي.

او ټولو کاذبه خندا وکړه، د دوى دې خبرې ډګروال لياخوف ته غير مستقيم پيغام درلود چې له الکساندر سره خواخوږي يې د دې لامل شوي ده چې څو ورځې مخکې زندانيان دا زړه پيدا کړي چې له کان وتښتي.

ډګروال غلى و، بيا يې په پيغور(طعنه‌آميز) شکل سره وويل: او دا بوډاتوب بيا د دې لامل هم کيږي چې ډېر وخت له تحقيق او پوښتنې پرته، د احتمالاتو او شکونو پر بنسټ قضاوتونه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل بوډا جنرال وويل: موږ او تاسو له یو بل سره ښه وخت تېر کړی او د (مور روسيې) لپاره مو ګډه خدمت کړی دی، که رښتيا ووايم، ډګروال لیاخوف په دې لیرې پرته له واورو ډکه سایبریا کې چې تر څو سوه کیلومتری پورې ډېر لږ انسانان لیدل کیږي، نور زړه تنګی شوی وي. ښه به وي چې مسکو ووینې او یو څه موده استراحت وکړي، کمیټه به نږدې ورځو کې پریکړه وکړي چې تاسو له دې کان څخه د دفاع وزارت یا ک.ج.ب دفتر ته بدل کړي.

ټول چارواکي له ځایه پورته شول، ډګروال لیاخوف یې ښه هرکلی او ښه خدای پاماني ورسره وکړه، تر هغې چې په دوو هلیکوپټرونو کې کېناستل او رخصت یې کړل.

لیاخوف په دفتر کې ناست و، خپه ښکارېده. تیلیفون ته یې لاس کړ، خبرې یې پیل کړې: سرجنټ کروچکوف راوغواړه.

څو شېبې وروسته کرچکوف د ډګروال له مېز سره ولاړ و، ډګروال وويل: کرچکوفه نه پوهېږم چې دا خبره ده ولې دومره لویه کړه، له کان څخه د کارګرو تېښته عادي مسئلې دي او تا په تېرو شپږو میاشتو کې ولیدل چې ډېری زندانیانو هڅه وکړه چې وتښتي، زه تر ډېره زموږ ترمنځ فضا دوستانه ساتم، له زندان تېښتې او دا خبرې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال سترګې برګې کړې او په غوسه انداز یې په لوړ غږ له دې خبرې سره سم، مېز په سوک وواهه:
...نو دا خبرې چې عادي دې ته اوس ماته واضح کړه چې ستا ستونزه څه ده چې د مرکزي کمیټې تر غړو پورې دې خبره ورسوله؟

په دفتر کې چوپه چوپتیا وه، کرچکوف چې تر تاثیر لاندې راغلی و، وویل: ډګرواله! زما نیت تاسو ته توهین نه و، بلکې یوازې په راپور کې مې لیکلي وو چې له پېښې مخکې یو کارګر ته امتیاز ورکړل شوی دی، دې نکتې دوی راپارولي دي او نه پوهېږم چې تاسو ته به یې څه ویلي وي؟

څو شېبې وروسته دفتر کې یوازې ډګروال ناست و، سګرټ دانې یې مخې ته وه او ډبل سګرټ یې غټ غټ کش کاوه، لکه سږي(ششونه) چې ټول ورنه ډکوي او بیا یې پو کوي. فکرونه یې وهل، خپګان او غوسه یې دواړه په مخ کې ښکارېدل، سګرټو یې مخ لا نور هم سور کړی و، تیلیفون ته یې لاس کړ، ویې ویل: هغه جرمنی کارګر چې څو ورځې پخوا دلته راغلی و، هغه راوله.

ډګروال ساعت ته کتل، ۱۲:۱۰ وې، ستن تاوېدله، ۱۲:۲۵ شوې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازه خلاصه شوه، يو عسکر چې الکساندر يې تر لاس نيولی و، راوست، عسکر ووت.

الکساندر ولاړ و، ډګروال اشاره وکړه چې په کوچ کېنې. الکساندر لاړ او کېناست. کوټه کې چوپتيا وه، د سګرټ بد لوګي وو، ټوله کوټه يې نيولې وه. د ساعت ټک ټک و او بس.

ډګروال چوپتيا ماته کړه: آيا پوهېږې چې ستاسو ته د امتياز ورکولو له امله چارواکو شک کړی چې تاسو به له تښتېدليو سره څه مرسته کړې وي؟ دوی ما ملامت ګڼي چې ولې دې يو جرمني بندي ته امتياز ورکړی؟

الکساندر وويل: زه ستاسو د مهربانۍ پوروړی يم خو حيران دې ته يم چې درې بنديان مو په سر او زړه کې وويشتل او له هغې وروسته مو ماته په سترګو کې اخطار راکړ، اوس مو بيا راوستلی يم او داسې خبرې راته کوئ چې زما په فکر کې هم نه دي راغلې.ډېره مننه، امتياز مو اخيستلی شئ.

ډګروال دواړه سترګې غلې چت ته پورته کړې، سر يې دواړو لورو ته وښوراوه لکه د خبرو حوصله چې نه وي ورسره، ويې ويل: د امتياز درکول يا اخيستل دومره مهمه خبره نه ده، په دوو يا درو مياشتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتمن د ټېښتې پېښې کیږي خو زه دې ته حیران وم چې ولې چارواکي په دې خبره پسې راغلي وو. دوی په ما څه گومان کړی و، هغه لیاخوف چې د جبهو د بریالیتوب دلیل و، اوس د کوچنیو خبرو پوښتنه ورنه کیږي؟ آیا پوهېږې د مرکزي کمیټې دا دوه کسان چې نن راغلي، دوی ما د جگړې په جبهو کې لیدلي وو چې څنگه به یې ځانونه گوښه کول او له جگړې به پټېدل، نن دوی نن ماته په کنایه کې وایي چې باید دنده دې بدله شي یا تقاعد شې...

الکساندر چې د ډگروال خپگان ته متوجه وو او درک کړې یې وه چې دا خبرې په ده پورې نه دي مربوط او ډگروال په یو شکل سره خپله گیله الکساندر ته کوي او الکساندر باید خواخوږي ورسره وکړي،الکساندر غلی و، ویې ویل: ډگروال صاحب! وختونه او خلک بدلیږي رابدلیږي. دا وخت دی چې ځینې کسان لوړپوړو ته پورته کوي او ځینې لوړپوړي ټیټو ته ښکته کوي.

خو ته لا هم هماغه لیاخوف یې او د وطن خدمت دې کوې، د دوی د څو کنایو په کیسه کې مه اوسه.

دواړه غلي وو، الکساندر وویل: صاحب که اجازه وي چې زه لاړ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکساندر ووت، ډګروال د دفتر ترڅنګ د خوب کوټې په لور روان و، ودرېد، بېرته شاته شو، د مېز روک یې خلاص کړ، د الکساندر کتابچه یې راواخیسته. د خوب کوټې ته لاړ، په تخت کې اوږد پرېوت، کتابچه کې یې نښاني ځای پرانیست:

... د روسیو الوتکو بمبار موږ لا محتاط کړو، موږ له لېرې څخه لیدل چې د ستالینګراد نورې برخې تر سخت بمبار لاندې دي او له لېرې مو د لسګونو الوتکو ننداره کوله چې د شګو په څېر بمونه په ستالنګراد ور غورځوي.

زموږ دنده دا وه چې له جګړې وروسته بلاکونه او ودانۍ تلاشي کړو چې د مقاومت او سره پوځ څوک هلته نه وي. دا دنده زما لپاره آسانه وه ځکه د ستالنګراډ په نورو برخو کې چې کومه اور بل و او سخته جګړه وه، موږ د هغې جګړې تاب نه درلود، د ستالنګراد هغو برخو په لور به یې تکړه تکړه کومندویان ورلېږل خو دا کوچنۍ دندې به یې موږ ته راکولې.

ما تر خپله وسه هڅه کوله چې ملکیان پناه ځای ته بوځم خو ډېر داسې کسان هم وو چې زما دا کار به یې نه و خوښ، دوی حتی د ملکي اوسېدونکو ته هم د پوځیانو په سترګه کتل او د هغوی وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته عادي وو، زما چې په زړه دي زما په مخ چا کوم ملکي نه دی وژلی.

یوه ورځ د اېس.اېس موټر زموږ پنډغالي ته راغی چې څو لوړ رتبه افسران پکې وو، ما له لېرې ښارل، دوی زموږ د قوماندان په لور ورغلل او خبرې یې ورسره پیل کړې. قوماندان هاخوا دېخوا وکتل، کله یې چې زه ولیدم، اشاره یې راته وکړه چې ورشم، زه ورغلم. زما په لیدو قوماندان د اېس.اېس کسانو ته وویل: دا و؟

پام مې شو چې دوی هماغه نازي افسران وو چې څو ورځې مخکې یې غوښتل ملکیان په برنډ وسوځوي چې په ځواب کې یې موږ دوی سخت سخت ووهل او سر او پښې مو ورماتې کړې.

د دوی د ډلې مشر چې ما د ټوپک په کنداغ سر ته وهلی و، سر یې تړلی و او زما په لیدو یې کنځلې پیل کړې، ویې ویل چې همدا و.

زموږ قوماندان د دوی قوماندان ته وویل چې ځینې وخت دا ستونزې راځي خو هڅه به کوو چې په دوه جانبه همکارۍ یې حل کړو. دوی لاسونه سره ورکړل او لاړل. د تګ په وخت کې چې موږ کوم نازي افسران وهلي وو دوی همداسې کنځلې کولې ترڅو چې پناه شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترټولو ډېر يې هغه يو غوسه و چې ما ټنډې ته په کنداغ وهلی و او ټنډه يې شکېدلي وه او سپين بنداژ يې ترې راتاو کړی و.

قومندان زه گوښه کړم، ويې ويل: الکساندره! د جگړې کلی د ترحم په نوم اوسيدونکي نه لري. دلته ټول کليوال وژل، زخمي کول، سوځول، تباه کول او له منځه وړل دي. بخښل، خندل او ښېگڼه کول د جگړې مربوط نه دي، هيله ده چې په دې سر خلاص شوی وي؟

ما ځواب ورکړ: نو آيا د جگړې په کلي کې د ځوانۍ(مېړنتوب) په نوم اوسېدونکی هم نشته؟ داسې مېړنتوب چې يو چاته وښيي چې ښځې او ماشومان بايد ونه وژل شي.

قومندان موسک شو: گوره الکساندره! ته ښه سړی يې خو تا په اصلي جبهو کې تباهۍ نه دي ليدلي، دريغه چې هغه تباهۍ ووينې، هغه وخت به بيا دا خبرې نه کوې.

پناه ځای چې له موږ څخه څو سوه قدمه وړاندې و، څو ځله به بهانه ورتلم ترڅو د هغې روسۍ نجلۍ احوال واخلم چې کورنۍ يې د روسانو په بمبارۍ کې له منځه تللي وه. زه د گزمې په توگه په هغه لور ورتاوېدم، څو ځله مې هڅه وکړه چې ويې وينم خو بريالی نه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل ځل مې ولیده چې د یو وران شوي تعمیر پایې ته یې ډېره وهلي ده(ناسته ده)، کله مې چې سترګې پرې ولګېدې د یو ډول ارامۍ احساس مې وکړ، په شنو غټو سترګو او سپین مخ باندې یې طلايي وېښتان رامات شوي وو او خپه ناسته وه. ما په نیمه روسۍ ژبه پرې غږ کړ: ستړي مشې، څنګه یې؟

زه یې په څو مترۍ کې ولاړ وم، شاوخوا نور ملکیان هم وو. غمجنه مخ یې زما لور ته راواړوه، شونډې یې وچې وې، په جرمنۍ یې وویل: که ژبه دې پوره نه وي زده، مه پرې غږېږه بد ښکارې.

دې خبرې ته یې زه موسک شوم خو ژر مې موسکا په جدي حالت واړولو چې څوک مې ونه ویني. بیا مې وویل: آیا کوم څه چې شوي دي او موږ خپه کوي، د دې وړ دي چې ورته خپه شو؟ حال دا چې زموږ خپګان کوم بدلون نه رامنځته کوي!

روسۍ پیغله، همداسې ناسته وه، ځواب یې رانه کړ. زنه یې په ګونډه ایښي وه. زړه کې مې د خجالت احساس وکړ، په زړه کې مې وویل: هر ځای هم د فلسفې لکچر نه وي...

بیا مې وپوښتل: ستاسو نوم څه و؟

روسۍ ځواب راکړ: انیلا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ښايسته نوم دی.

خپل شاته بکس مې راخلاص کړ، ډوډۍ وه او يوڅه مربا هم په مرتبان کې وه، غلي مې راواخيستل چې د چا راپام نه شي. ورنږدې شوم او په لاس کې مې ورته ونيول، ومې ويل: په دې ورځو کې د غذا موندل سخت شوي دي، دا ډوډۍ او مربا زما له لوري تحفه ومنه.

انيلا ژر راځخه واخيستل، داسې ښکارېده چې بيچاره نجلۍ ډېره وږې وه، د سترګو په رپ کې يې مربا او ډوډۍ وخوړل، بيا يې په حيرانتيا راوکتل او په غمجنه لهجه يې وويل: عجب جرمنان ياست، هم مې په هېواد يرغل کوئ، هم مې کور ړنګوئ، بيا ستاسو له لاسه د کورنۍ ټول غړي رانه مړه شول. وروسته بيا مربا او ډوډۍ هم راکوئ؟

زه چې تر تاثير لاندې راغلی وم، هڅه مې کوله چې بايد داسې خبره ونه کړم چې دا رانه خپه شي، په طنز سره مې وويل: ګوره هر جرمنی هم چاته مربا او د سيلو ډوډۍ نه ورکوي، هغه هم خپل حق ډوډۍ!

انيلا په لومړي ځل لږه موسکه شوه، څه يې ونه ويل. ما وويل: زه د ګزمې په شکل دلته درته راګرځم ځينې وخت، هڅه کوم چې يو څه خواړه درته راوړم. مازديګر مهال په همدې شاوخوا کې اوسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انیلا په حیرت راکتل، ویې ویل: اصلاً ما څه ښه درسره کړي؟ که فکر کوې چې د جاسوسې په توګه مې وګمارې، نو ښښنه درنه غواړم زه د چا جاسوسي نشم کولی، د هغې پرځای غوره ګڼم چې یوه مرمۍ مې په ټنډه خالي شي ځکه هسې هم څوک نه لرم چې پر جسد مې وژاړي.(نجلۍ په ژړا شوه)

دې خبرې یې زه شاعر تر تاثیر لاندې راوستم، ما ډاډ ورکړ: نه، نه. دا خبره بیا ونه کړې. ستا ټنډه د دې لپاره خدای نه ده پیدا کړې چې کوم خیرن کارتوسې سوری کړي، بلکې د دې لپاره یې پیدا کړې ده چې بل څوک یې ووینې نو د خدای خلقت ستاینه وکړي.

د انیلا خبرې چې په خپګان او ژړا یې کولې، ما به په طنزي او شوخ ډول ورځوابولې، د دې خبرې سره سم یې وویل: په خدای باور لرې؟

- هو، ولې نه.
- موږ ته یې له ماشومتوب نه دي راښودلي او نه هم اجازه لرو چې باور ولرو.
- د هر چا خپله خوښه خو زه بې‌خدایه نړۍ نشم تصور کولی، د خدای نوم په بدو شرایطو کې زما د ارامتیا لپاره یوازېنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځیز دی. رښتیا انیلا، جالب نوم دی. فکر کوم روسی نوم به وي.

انیلا اورېږ پورته کړې، ویې ویل:

- نه غلط یې، زما پلار منځني ختیځ ته تجارت کاوه، د دوی له فرهنګ متاثر شوی و او زما لپاره یې دا نوم غوره کړ، شاید د هماغو خلکو کوم نوم وي خو ماته یې وویل چې د نوم معنا دې (باد او هوا) دي. زما پلار ډېر ګرځېدلی سړی و، هغه ویل چې دا نوم د پخوانی سانسکریت ژبې دی، په پخواني هندي دینونو کې یې د باد او هوا خدای ته انیلا ویل او د باد او هوا رب‌النوع دویم نوم و.
- څه جالب، خو جرمني ژبه دې څنګه دومره ښه زده کړې؟
- مخکې مې وویل چې پلار مې سوداګر و، مونږ څو کاله په برلین کې تېر کړل، پلار مې هلته ډېر شریکان درلودل. په همدې شکل یو کال په فرانسه او شپږ میاشتې په لندن کې پاتې شوي یو. په دې موده کې زما په ټولو ژبو کې دا (ستونزمنه ژبه) جرمني(ډاچ) خوښه شوه.
- پلار مو اوس چېرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انیلا په خپګان وویل: د جګړې له شروع را په دې خوا بیا نه یو ترې خبر چې چېرته به وي، حتی له مړي او ژوندي یې هم نه یو خبر.آخر ځل یې چې پیغام راغی، په بیلاروس کې و. موږ ستالنګراد ته موقتي راغلو خو خبر نه وو چې دلته د اور باران پیل کیږي. مور او خویندې مې هم تر هغه کانکریټو لاندې شول(ویجاړې ودانۍ ته یې اشاره وکړه)...

بیا یې ژړا پیل کړه، ما غوښتل چې همدردي ورسره وکړم، نږدې و چې د تسلي په موخه یې په مټ لاس کېږدم خو ژر راپه زړه شوه چې زه د ویرماخت عسکر یم... په کوم کافي شاپ کې نه یم چې یوې ښکلي جلۍ ته تسلي ورکړم بلکه د ستالنګراد په نوم یو جهنم کې یم چې ان نشم کولی چې ځان ته تسلي ورکړم.

نجلۍ سر د خپلې څنګلې باندې ایښی و، ما یوه ټوټه ورکړه چې اوښکې پرې پاکې کړي، بیا مې په آخر ځل ورته وویل: موږ اړ یو چې ناخوالې او بدمرغۍ تجربه کړو ترڅو نیکمرغیو ته ورسیږو!

نجلۍ سر راپورته کړ، ژړا یې غلي شوه، په غوسه یې وویل: زه به څه ډول هغه نیکمرغي تجربه کړم چې خپلوان او کورنۍ مې نه وي پکې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلی وم، زیاته مې کړه: هر مازدیګر همدلته کېنه، زه ګزمه وهم او پر تا راځم...

ورنه روان شوم، نجلۍ له شا راغږ کړ: ستاسو نوم څه و؟

- الکساندر.

روان شوم، همداسې مې ګزمه وهله د ډلګۍ په لور لاړم، څو ځله مې په شا ورکتل او هر ځل به مې زړه د خوښۍ احساس کاوه.

د جنګ له جبهو خبرونه راتلل چې روسان سخت مقاومت کوي، پرله پسې د ويرماخت جنګي خطونه مات شوي دي او په ډېرو سيمو کې له ماتې سره مخ شوي دي. دا خبرونه زموږ لپاره ډېر جالب وو ځکه جرمني دومره چټک پرمختګ کاوه چې موږ فکر کاوه چې ناممکنه ده چې جرمني به ماتې وخوري.

د نومبر مياشت وه، خبرونه را رسېدل چې روسانو پرمختګونه کړي دي، رومانياوي ځواکونه يې سخت ټکولي دي او ممکنه ده چې ستالنګراډ محاصره شي. څو ورځې نه وې تېرې چې زموږ خوراکي او اکمالاتي توکي بند شول او پوه شوو چې حالات ستونزمن کيږي.

د ويرماخت شپږم پوځ چې د ستالنګراډ د فتحې لپاره راغلی و، اوس اړ و چې محاصره ماته کړي. ساړه راغی، دومره شديد ساړه و چې ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټول عمر کې هم دومره وحشتناک ساړه نه و لیدلی. موږ ته امر وشو چې د ستالنګراډ د غرب په لور لاړ شو، روسانو چټک پرمختګ کاوه او ستالنګراډ پولو ته راورسېدل.

ما په سترګو ولیدل چې عسکرو به په ملکي خلکو باندې ډزې وکړې او وژل به یې، چا دې ته نه کتل چې څوک ماشومان دي؟ څوک لویان دي او څوک معیوب. بس د اوسپنې ټوټې به د ټوپک له خولې باد شوې، د انسانانو به غوښه به نتوتې او ژوندی انسان به یې په ځمکه ولغړاوه.

که چېرته بشر وغواړي چې خپله ترټولو بدرنګه څېره ووینې نو کولی شي چې د جګړې په آئینه کې یې ووینې. جګړه د خلکو څېرې بدرنګوي، کوم عسکر چې زما سره یو ځای راغلل، د جګړې په پیل کې ښکلي او تندرست خلک وو خو د څو میاشتو په تېرېدو سره یې حیواني خویونه اخیستي وو، مخونه یې سپیره او وچ شوي وو.

زموږ پوځي لیکې ګډې وډې شوې، امر وشو چې د ستالنګراډ غرب کې وجنګېږئ، عسکرو به چې کومه سیمه پرېښوده نو هلته به یې ملکیان سخت ووژل. یوازې موږ داسې نه وو، روسان هم په همدې شکل وو، له جګړې وروسته د نوریلیسک په کان کې د د ویرماخت له پخواني قوماندان سره ملګری شوم چې هغه هم زما په څېر جنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسیر و، نوموړی د برلین په شرقي جبهه کې له روسانو سره جنګېدلی و، هغه وویل چې کله چې روسان جرمني ته رانوتل، په ځانګړي توګه په برلین کې یې په ښځو او ماشومانو رحم ونه کړ او ډېری یې یو شان وژل.

زه پوه شوم چې کله چې جګړه پیل شي نو ښه او بد نه سره پېژندل کیږي او ټول د یوه اور خوراک ګرځي. جګړه عقده او کینه پیدا کوي، د انتقام په سر انتقام اخیستل کیږي او دا انتقامونه دومره ډېر شي چې په میلیونونه پکې ووژل شي.

ما چې په ځلونو ځلونو له انیلا سره لیدلي وو، مخکې له مخکې مې خبرداری پرې کړی و چې که حالات ډېر خراب شول نو چېرته دې ځان ته د پټېدو ځای پیدا کړي، زه پوهېدم چې موږ د ستالنګراد غرب ته لېږي، ورته ومې ویل چې له دې ځایه دې نه خوځي، زه بېرته راځم ورپسې. هغې اطمینان راکړ چې ځانته یې خوندي ځای موندلی ځکه هېڅ داسې ځای نه و چې هلته دې امنیت وي.

د ساړه له امله، زموږ ډېری نقلیه وسایط له کار ولوېدل، په ډېره ستونزه مو ځانونه د ستالنګراډ غرب ته ورسول، هلته د ټانک څلورم (Panzer 4th army)پوځ ځای پرځای و چې سخت مقاومت یې وکړ. کومه صحنه چې زما په هغه ځای کې په زړه ده، په لیکلو که فکر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم چې بیان شي. د اور شغلې، د ټانکونو او بمونو چاودل چې له امله یې زما یو غوږ اوس هم کار نه کوي. د سلګونو نه، بلکې د زرګونو عسکرو وینې، پرې شوي پښې او سرونه... ظالم ساړه.

د جګړې ماحول له یو کس څخه داسې څوک جوړوي چې پخوا به یې خیال هم نه کېده، زه پوهېدم چې زه وژل کېږم نو ما هم د نورو عسکرو په څېر جګړه کوله، ځینې وخت مې داسې کارنامې هم کولې چې نورو عسکرو به آفریني راکوله.

خو تر اوسه چې ما د ټوپک ماشه ټینګه کړي، انسان مې وژلی او یا مې هم ټانکیسټ ته داسې کوردینات ورکړي چې هغه نور انسانان وژلي وي، په یوه مې هم افتخار نه کاوه او نه یې اوس کوم. جګړه ډېر ناځوانه او وحشتناک میدان دی. یا بې دې غورځوي یا به یې غورځوې.

په موږ داسې لوږه راغله چې مجبور شوو هر شی وخورو. یوه ورځ مې د ستالنګراډ په لویدیځ کې ځینې سرتیري ولیدل چې د یوې پیشو په سر په جګړه سره اخته وو، دوی د شفقت او مهربانۍ نیت نه درلود، بلکې وږي وو او غوښتل یې چې پیشو وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما بیچاره پیشو ولیده چې سرتیرو وخوړه، ما د دې صحنې په لیدو قی وکړ.

داسې ښکارېده چې موږ له ماتې او محاصرې سره مخ شوي وو، په وړیو ګېډو جګړه نه کېده، وسایط مو خراب شول، په هره لیکه کې به روسان رامخته کېدل او موږ به په شا تللو، تر هغې چې داسې سیمې ته ورسېدم چې د انیلا پناه ګاه ته یوازې څو کیلومتره پاتې و.

ځینې عسکر به تر مرګ پورې جنګېدل او د تسلیمۍ یې ان فکر هم نه کاوه خو ما او څو نورو ورو ورو د جګړې جبهه پرېښوده او شاته کېدلو، زه په پلمه پلمه هغې سیمې ته راغلم چې پخوا مې هلته له انیلا سره کتل، زه لوږې سخت خراب کړی وم. ومې لیدل چې په هغو پناه‌ځایونو کې څوک نه دي پاتې، نیم ویجاړ بلاک ته ننوتم. بهر د چاودنو سخت غږونه وو، هاخوا دېخوا مې کتل خو څوک مې پیدا نه کړل، چیغې مې کړې: انیلا! انیلا!

خو ځواب رانغی، وارخطا مې د ویجاړو او سویو ودانیو منځ کې منډې وهلې، په ځینو برخو کې د انسانانو یخ وهلي مړي پراته وو، ډېر کله به د وارو‌ې لاندې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هاخوا دېخوا مې وکتل، فکر مې وکړ چې د انیلا پناه ځای به دا نه وي، خو وورسته مطمئن شوم چې همدلته وه. بیا مې غږ کړ خو خبر رانغی.

بهر ووتم، د وران تعمیر مخې ته ودرېدم، شاخوا مې ځارل.

ناڅاپه مې پام شو چې ترځنګ مې کانکریټ والوته. پوه شوم چې کوم سناېپر مې په نښه کوي، پروت مې وکړ، د ړنګو کانکریټو شاته پټ شوم خو مطمئن نه وم چې سناېپر چېرته پټ دی. څو دقیقې همالته پروت وم، خپله خولۍ مې راواخیسته او د کانکریټ سر ته مې پورته کړه ترڅو مطمئن شم چې سناېپر مې څاري کنه، سناېپرچي دومره ماهر و چې د سناېپر مرمۍ یې زما د خولۍ ترځنګ تېره شوه او ټچ شوه، په اوسپنیزه خولۍ کې یې داغ وکړ. ډار شوی وم، سړی ډېر چټک و.

د سویو ودانیو منځ کې د کانکریټ شاته همداسې پروت وم، هلته انیلا ته اندېښمن وم، هلته بیا له ظالم سناېپرچي سره اوښتی وم.

نیم ساعت منتظر وم، ما له لېرې د جرمني عسکرو منډې لیدلي چې په شا ځي خو په کومه سیمه کې چې زه وم دا ډېره استثناء او له خلکو تشه وه. ظالم سناېپرچي همداسې راته وړی و، ما جیب ته لاس کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسمال مې راوباسه، د ټوپه په میل مې وتاړه چې د یو بیرغ په توګه کار وکړي، ما وویل چې ممکن سناپیرچي پوه شي چې زه تسلیم شوی یم، د توپک په میل مې بیرغ وتاړه، له کانکریټ مې پورته کړ او ومې ښوراوه، په دې مانا چې زه تسلیم یم او سوله کوم.

ناڅاپه بله مرمۍ راغله د ټوپک په میل ولګېده، Kr98 ټوپک مې راښکته کړ، ومې لید چې میل کوږ شوی و. حیران پاتې وم چې څه وکړم؟ آیا دومره دقیق نښان ویشتونکی چې کولی شي له لېرې فاصلې څخه د ټوپک میل هومره هدف هم خطا نه کړي!

همداسې پروت وم او نشوم خوځېدلی، ښځینه غږ راغی، آشنا و. پوه شوم چې د انیلا غږ دی خو نه پوهېدم چې له کومه راځي، په جرمنۍ یې وویل: الکساندره! مه خوځېږه همالته پاتې شه، څو ساعته همالته پټ شه چې شپه شي، هڅه مې وکړه چې وګورم چې انیلا چېرته ده، اشاره یې وکړه چې دې خوا راوګوه، ومې لیده چې د یو ویجاړ تعمیر، د تهکوي له پنجرو څخه  راغږیږي.

یو ځل مې زړه و چې خپله منځنۍ ګوته له خپل ځای څخه ورته پورته کړم او په اشاره کې توهین ورته وکړم خو بیا مې فکر وکړ چې د ټوپک میل یې وویشت، ممکن منځنۍ ګوته دې هم وولي نو همدا دلیل و چې له دې احمقانه پلان څخه تېر شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې ښه شو. انيلا نه وه تللي او ماته منتظره وه. د ستالنګراډ په آسمان الوتکې ګرځېدلې، بمبارونه يې کول، ما له لېرې ورته کتل. زه سخت ساړه لړزولم، له هاخوا د انيلا خوږې خبرې راتلې چې په زړه مې ښې لګېدې، ځو ځله مې غوښتل چې سناېپر مصروف کړم، يو ځل يې نږدې لورى راته وويشت، مرمۍ په ځمکه کې باندې له واورې ووته او په ځمکه کې خښه شوه، ما خنجر راوباسه او مرمۍ مې په ډېر احتياط راوباسله، داسې چې زما لاس د سناېپر دوربين ته برابر نشي، د مرمۍ سر مې په لاس کې واخيسته، ورته ځير شوم، پام مې شو چې د مرمۍ سر د جرمني سناېپر د مرمۍ دى، دا روسى مرمۍ نه وې، جالبه وه، کوم روسي ته جرمنى سناېپر په لاس ورغلى و خو پوښتنه راته پيدا شوه: هسې نه چې کوم جرمنى وي او د دښمن خيال يې دربانده کړى وي، که څه هم د جرمني عسکر په شا کېدل خو دومره نه وو په شا شوي چې روسان دې ستالنګراډ ته راننوځي او په ودانيو کې دې د سناېپر په توګه کيني. ځو ساعته وروسته ماښام او پسې شپه شوه.

له بده مرغه بايد ووايم چې شپه هغسې نه وه چې ما يې توقع کوله، واوره شوي وه او ځمکه يې سپينه کړي وه، د واورې له امله شپه هم پوره نه وي او واوره يو ډول ضعيفه رڼا جوړوي. زه پوه شوم چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرته اوس وخوځېږم او په سپینه واوره کې وګرځم یا په پروت یا په ولاړې، د انیلا پر لور، نو زما یونیفورم تور و او په سپینه واوره کې به زه خوځېدونکی شی ښکارېدم او ممکنه وه چې په خوځېدونکي شي د سنایپر له لوري ډزې کېدې، عجب لعنتي سنایپرچي و، آیا هغه احمق خوب هم کاوه که نه، شپه شوه باید دی ویده شوی وای؟ که دی انسان وای نو باید اوس خو ویده شوی وای.

زه یې په یخنی-ساړه تباه کړم.

انیلا راته ژړل چې هسې نه چې ساړه مې مړ نه کړي. په دې بد حالت کې د هغې خپګان... ډېر سخت و.

ما د ازمایش لپاره په ډېره ستونزه د کانکریټ یوه لویه ټوټه راواخیسته او په سپینه واوره کې مې داسې وښویوله چې معلوم شي لکه کوم ځوک چې په پروت شکل سره خوځیږي، ناڅاپه مرمۍ راغله او په کانکریټ والوته، سنایپرچي لعنتي همداسې فعال و او په سپینه واوره کې یې په آسانۍ سره اهداف تشخیص کولی شول. د ساړه له لاسه مې ورو ورو ځان بې سېکه کېده، یو ځل خو مې وویل چې تصادفي منډه واخله او د انیلا د ودانۍ لور ته ځان ورسره، فکر نه کوم چې په حرکت کې دې وکولی شي چې ما په نښه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت مې ورو ورو خرابېده، او لړزې واخیستم. انیلا ته مې وویل چې هسې نه چې ما پسې راشې، څو دقیقې ووتلې. د قدمونو غږ مې واورېد، څو کسان وو. ګروپونه هم ورسره وو، همداسې پټ وم، بیا مې وویل چې حتمن جرمنان دي هسې نه چې سنایپر یې هدف وګرځوي.

د مرستې غږ مې وکړ، دوی چټک شول، تر ما راورسېدل، ویې ویل: له جګړې پټ یې؟

ما وویل: سنایپر دی پناه شئ، ټولو یو بل ته وکتل خو د سنایپر درک نه و. دوی وویل: که سنایپر وای، اوس به یې زموږ له ډلې څخه د کوم یو سینه سوری کړې وای یا هم ممکن ماغزه یې په واوره راته شیندلي وای.

ویې خندل: احمقه په شپه کې نو سنایپر څه بد کوي.

نورو وخندل، له ځایه یې پورته کړم، سخت رېږېدلم. له ځایه پورته شوم په ډېر احتیاط، وېرېدلم چې هسې نه چې انیلا ته د چا ورپام شي. دوی وویل: موږ په غذا پسې راوتلي یو، راځه چې یو ځای پسې وګرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وویل: زه سخت ساړه وهلی یم ، لږ خس پیدا کوم چې اور راته بل کړم. خو پام کوئ سناېپر دی، د ټوپک میل مې ورښکاره کړ چې دا حال دی! دوی نور هم وخندل خو وروسته اندېښمن شول، ویې ویل: فکر نه کوم چې دې سیمې ته دې کوم روسی رانوتلی وي چې په موږ ډزې وکړي.

دا خبره یې وکړه، په خپله مخه لاړل. زه ژر د هغې ورانې ودانۍ لور ته لاړم، چې په زیرزمیني کې یې انیلا پناه اخیستي وه. بیا مې هم احتیاطاً خپل ګروپ چالان کړ، خپل یونیفورم مې وباسه، د ټوپک په میل مې د سناېپر د لید ساحې ته برابر کړ، دوه متره هاخوا ساحه کې مرمۍ ولګېده.

حیران وم، د عسکرو ډله یې نه ویشته او یوازې زه یې ویشتم، نه پوهېږم چې دا څه وو؟

د زیرزمیني کړکي ته ورننږدې شوم، که څه هم دا کړکۍ د سناېپر د لید په ساحه کې و خو ما ځان ترې پناه کړی و، انیلا ته مې غلی ورغږ کړ: انیلا! په کومه لاره درشم، د بلاک شمال لور ته نشم تللی، هلته سناېپر دی، انیلا غلي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هخه وکړه چې د بلاک شاته راتاو شې، د شا له خوا مې یوه لویه کانکریټي ټوټه ایښي ده، هغه زه ایسته کوم، مخفي لاره ده، پام کوه. غلی غلی لاړم او د نیم ویجاړ بلاک شاوخوا مې وکتل، د کانکرېټ غټې غټې ټوټې وې. پوه نشوم چې اوس په دومره ډېرو ټوټو کې کومه یوه ده؟

یوه لویه ټوټه وخوځېده، انیلا نښه(سګنال) راکړ. ژر ورغلم، ټوټه مې راپورته کړه. انیلا یې شاته وه، ننوتم او ټوټه مې بېرته راسمه کړه او لاره مې بند کړه. دا ځای د الوتکو بمبار له امله ویجاړ شوی و، د ماتو کانکریټ ټوټو لاندې زیرزمیني سالمه پاتې وه خو د ورانو کانکریټونو منځ کې نه ښکارېده چې دلته به هم لاره موجوده وي. ډېره موده وروسته مې انیلا ولیده، بې اختیاره یې غېږ راکړه، زه هم سخت ساړه ریږدولم، دې غېږې هغه د یخ جهنم راته جنت کړ، زړه مې تازه شو. انیلا له لاس ونیولم، بدرګه یې کړم، سخت ساړه وهلی وم، بریتونو مې یخ نیولی و. انیلا په یو ویجاړ کوچ کې کېنولم او په سر یې کمپله راباندې واچوله. په لاس کې یې کوچنی ګروپ و. پام مې شو چې هاخوا د خوراکي توکو او وسلو څو بستې ایښي دي. ومې ویل: دا چېرته وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

انیلا هم ساړه نیولي وه، ریږدیدله، ویې ویل: په کوم بلاک کې چې موږ اوسېدو، د هغه په زیرزمینۍ کې په یوه مخفي ځای کې روسي عسکرو خپله اذوقه او وسلې ایښي وې، د همدې بلاک په شمول خو دلته یوازې د وسلو صندوقونه اېښودل شوي وو. څو ورځې چې ستاسو عسکر له دې ساحې ووتل، ما په پټه توګه، د څو ورځو په جریان کې هغه خوراکي توکي په پټه دلته انتقال کړل ځکه پوهېدم چې دلته باید پټه شم. دلته په تصادفي توګه ښه پناه‌ځای جوړ شوی.

زه له ځایه جګ شوم ، په صندوقونو کې مې ډوډۍ او مرتبانونه ولیدل چې ممکن د ټینګو شیدو او خوږو شیانو وي، بل لور ته د وسلو غټ غټ صندوقونه ایښي وو. ومې ویل: دا د وسلو صندوقونه څنګه ممکن دي چې تر دې ځایه راورسیږي.

انیلا وویل: دا له پخوا دلته وو، کله چې جګړه پیل کېدله، د دې بلاکونو په زیرزمینیو کې وسلې ځای پرځای کېدلې او همدا دلیل و چې روسانو ډېر مقاومت وکړ، کوټه په کوټه او بلاک په بلاک!

وچه ډوډۍ مې راواخیسته او ژر ژر مې یې په خوړلو پیل وکړ، دومره تېزه مې وخوړه چې په ستوني کې مې بند شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انیلا وویل: دلته باید تر هغه پاتې شو چې د جګړې سرنوشت معلوم شي...

- فکر نه کوم چې د جګړې سرنوشت ژر معلوم شي، جرمنان ممکن نور پوځ هم راولیږي.

دې زیرزمینۍ یوازې یوه جال لرونکي ورسۍ درلوده، انیلا د کانکریټو ځو ټوټې سر په سر ایښې وې او له دې ورسۍ یې بهر حالات کتل.

انیلا اندېښمنه وه، په ځان یې ډبل پټو(چادر حجیم) راتاو کړی و او په چوکۍ کې ناسته وه.

تیاره وه، ډېر څه نه ښکارېدل، انیلا ته مې غږېره خلاصه وکړه. انیلا په پیل کې لړه بې جرئته شوه خو وروسته زما غیږې ته راغله، دواړه په یو څادر کې پټ شوو او په څیرې شوي کوچ کېناستو.

له حالاتو او ساړه څخه ستړي شوي وو، فقط چې د سوکالۍ احساس مو وکړ.

انیلا وویل: دا څو اونۍ چې تاسو د ستالنګراد غرب ته تللي وئ، ما له دې پنجرو شاوخواوې تر نظارت لاندې نیولي وې، ستاسو له تګ وروسته چې کومو ملکي روسانو په دې بلاکونو کې پناه اخیستې وه، ډېری یې د اېس.اېس له لوري وژل کېدل، هماغه وو چې په نامالوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لور وتښتېدل او دا ځای تش شو خو هغه څه ته چې زما پام شو، هغه افسر چې غوښتل یې زما کورنۍ ژوندي په اور کې وسوځي، هماغه کس چې تا سخت سخت وواهه او سر دې پرې مات کړ. دلته څو ځله په ګزمه شکل سره راغی، دې بلاک ته څو ځله پورته شو، فکر مې کاوه چې زه یې تر نظر لاندې نیولي یم او فکر یې کاوه چې لا هم دلته چېرته پټه شوي یم خو تر آخره یې پیدا نکړم. د هغه کس ډلګۍ دوه ورځې پخوا هم راغلي وو او د غذا په لټون پسې یې دا کورونه لټول.

د انیلا خبرې مې قطع کړې: صبر، آیا پام شوی دې و چې له دې افسر سره کوم ډول ټوپک و؟

انیلا ښکلي خو ستړې سترګې لږې خیره کړې، ویې ویل: په غالب ګومان سره یو MP-40 او په آخر ځل سناپېر و فکر کوم.

غلي شوه، تکرار یې کړه: بالکل، سناپېر و... روسان تر اوسه ښار ته نه دي ننوتلي او پر تا یې چې ډزې کولې ممکن همدی و.

کله چې انیلا د سناپېر خبره وکړه، زما په ذهن کې له پیل نه شک و چې دا کس هماغه و. ما د ویرماخت له څو عسکرو څخه د ده په اړه پوښتلي وو، هغه مسلکي او روزل شوی کس و او دا مې هم اورېدلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو چې ذهني ستونزه هم لري، همدا یې دلیل دی چې اېس.اېس ته یې جذب کړی و ترڅو ډېر جنایتونه پرې ترسره کړي. ښکاره شوه چې دا احمق عقده اي او کينه کښ و او دا یې ذهني ستونزه وه چې حتی د جنګ او یخنۍ په دې بد حالت کې یې هم تعقیب کړی وم او دا دی اوس مې خاري. زه پوه شوم چې دا احمق به دلته راځي او بالاخره به یو شر جوړوي.

زه او انیلا چې څو ساعته مسلسل ساړه وهلي وو، بهر چتکه واوره وه خو ښه خبره دا وه چې یخني په کوچنۍ پنجره ډېره نه راننوته او موږ په یو شکل سره له باد او واورې خوندي وو خو لا هم سخت ریږدیدلو.

ما انیلا ته کتل چې په تیاره زیرزمینۍ کې یې شنې سترګې ځلا کوي، ښه له نږدې مې ورته کتل، ورته ځیر وم. ومې ویل: څه فکر کوې چې د یو چا بې دلیله خوښېدل په دې ارزي چې د جګړې جبهه پرېږدې او دیدن ته یې تږی په رامنډو شې؟

انیلا راته کتل، لاس یې زما پر ورمیږ راتاو کړی و، ویې خندل او په طنز شکل سره یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- بښنه غواړم، د جنګ جبهه کومه وړیا مې خانه نه ده چې مفت شراب پکې موندل کېږي اود یو چا زړه دې ترې ونشي، هلته به هسې هم په منډه وې... د معشوقې دیدار به بهانه کړې او دې خواته به په منډه راخلاص شې. (دواړو غلي وخندل)

څه موده دواړه غلي وو، بهر به د چاودنو غږونه اورېدل کېدل خو زموږ دنیا له بهر دنیا سره مختلفه وه، موږ دوه مئینې مرغۍ وو چې خپلې عاشقانه خبرې مو کولې.

انیلا وویل: څه فکر کوې، موږ به ژوندي پاتې شو؟ په زرګونو خلک ووژل شول، څنګه ممکنه ده چې زه او ته به ژوندي پاتې شو؟ له مرګ ویریږې؟

زه څو شېبې چپ وم، ومې ویل: مرګ یو امتیاز دی خو کله چې په خپل وخت راشي، انسان ته پکار ده چې ژوند وکړي خو بوډاتوب داسې مرحله ده چې ممکن ژوند خسته کن شي، له هغه وروسته مرګ امتیاز دی.

انیلا ریشخند راپورې واهه، ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ته نو د بوډاتوب په فکر کې مه اوسه، وخت پاتې دی، که اوس مړه شو نو ته څه پکې وایې.

اسویلی مې وایست: نه اوس نه غواړم چې مړ شم! خصوصاً چې ته مې ولیدې، غواړم په دې دنیا ډېره راسره وې.

- نو ولې ستاسو په اند په بله دنیا کې مې هم غواړې؟

- هو، زه او ته که مړه شوو، هلته به سره یوځای کیږو.

- خو که زموږ څخه اول څوک مړ شو، بیا خو فقط یو تن بلې دنیا ته لاړ؟

- نو دویم هم مجبور دی چې ځان پسې ورسوي.

- یانې که زه مړه شوم، ته به ځان راپسې ووژنې؟

- هو.

- فکر نه کوم چې دومره زړور دې وې.

زه غلی شوم. بیا یې وویل: فکر نه کوم چې دلته دې ډېر ژوندي وو، وعده راکړه چې په بله دنیا کې به یو ځای وو... وعده ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه غلی وم او فکرونو وړی وم، ومې ویل: دومره منفي فکر مه کوه، شاید کومه معجزه وي او جګړه ختمه شي. زه او ته به له دې ځای ووځو، برلین ته به لاړ شو، مور ته به ووایم چې د هیلو نجلۍ مې پیدا کړه او غوره دا چې جرمني ژبه یې هم زده ده.(انیلا موسکه شوه)

بیا مې وویل: فیلسوفان سره په جنجال کې دي، یو وایي له مرګ وروسته ژوند شته، بل وایي چې نشته خو زه ځکه غواړم چې له مرګ وروسته ژوندی شم ځکه هلته د یو بل لیدل غواړم...

لاسي څراغ مړ شو، ښکاره شوه چې چارج یې خلاص شو، تیاره شوه. ومې ویل: اوس خو تیاره ده، د یو بل غږونه اورو خو موږ یو بل نه وینو، اصلي خبره دا ده چې زه له دې تیارې خوند اخلم چې ستا غږ پکې اورم. زه تا وینم یا اورم نه بلکې احساسوم دې.

- دومره ښکلي مکالمې دې چېرته پخوا تمرین کړي وې که خنګه؟ (انیلا په ټوکه وویل).

- موږ شاعران یو، خبرې راته الهام کیږي خو جالبه دا ده چې ته زما هره رومانتیکه خبره په ټوکه اړوې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

انیلا په تیاره کې یو څه په لاس کې راکړل، اوسپنیز ساعت و. ویې ویل: دې ساعت کې زما عکس دی، دا زما د پلار یادګار و چې راکړی یې و، غواړم چې له تاسره وي.

هغه شپه هیڅ پوه نشوم چې څه ډول ویده شوي وو...

پوه نشوم چې څومره موده ویده همداسې په مات کوچ کې ناست ویده شوي وو، سهار مهال کلکې چاودنې له خوب راویښ کړو. په کنکریټو ودرېدم ترڅو بهر ساحه له کوچنۍ کړکۍ ووینم، څوک نه ښکارېدل.

وخت تېر شو، له تیارې مې حس کړه چې ماښام کېدونکی دی، انیلا د هر بم چاودنې سره خوځېده خو زه عادت شوی وم. زما دا درې ورځې چې په یوه تیاره تهکوۍ کې له انیلا سره وم، د ژوند ترټولو غوره او نه هېرېدونکي ورځې دي ځکه کولی مې شول چې له انیلا سره وغږېږم، ویې وینم، غږ یې واورم. لاس یې په لاس کې واخلم او د زړه خبره ورته وکړم، منم چې حالات ډېر له حده وتلي بد وو خو د انیلا غیږه په دې واورین جهنم کې زما لپاره هغه څه و چې په لیکلو کې یې نشم بیانولی...

خو فقط درې ورځې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له درو ورځو څه وشول؟ که په لنډه ووایم چې زه همالته مړ شوم او له هغه وروسته چې کوم ژوند دی، دا یوازې یو کالبد او جسد دی چې په لاره ګرځي، خوري، څښي او ویده کیږي.

په درېیمه ورځ د سلګونو عسکرو د پښو غږ موږ له خوب راجګ کړو، داسې ښکارېده چې محاصره نوره هم تنګه شوي وه او جرمنان اړ وو چې بېرته د ښار لور ته شاتګ وکړي، زموږ د پناه‌ځای په مسیر باندې هم په سلګونه عسکر تېر شول او بېرته د ښار په لور روان وو، موږ په هماغه تهکوۍ کې پټ وو. څو ساعته همدا منډې وې... قراري شوه، موږ هېښ او حیران وو چې څه به کیږي، انیلا لږه خوښه ښکارېده، هغې فکر کړی و چې روسان به راورسیږي او موږ به له دې ځایه ووځو خو دا یې هېر کړي وو چې زه د ویرماخت عسکر یم او روسان مې وژني.

د پنجرې په تنګه او لنډه ساحه کې موږ حیران هاخوا دېخوا کتل، ناڅاپه بیا د پښو غږ شو، یو څوک ورو ورو ګرځېده خو موږ ته نه ښکارېده، ډېر کوږ شوم چې ویې وینم خو د ورسۍ مخې ته هم د کانکریټ څه ټوټې وې چې سخته وه چې څوک ووینو. ومې نه لیدل چې څوک وو خو پوه شوم چې څو کسان دي، په خپلو کې یې په جرمنۍ خبرې کولې، ځیر شوم، متوجه شوم چې دا هماغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اېس.اېس مامورین وو چې په جنګ ورسره کړی وو. وارخطا شوم چې څنګه ممکنه ده چې پوه شوي وي چې زه دلته یم؟

انیلا هم ووېرېده او لړزې واخیسته، ما یې لاس په لاس کې ونیو. اطمینان مې ورکړ چې ستونزه نشته. هاخوا په میز یو لاسي جرمنی بم پروت و، هغه ته مې وکتل، فکر مې وکړ چې که لاس مې له ورسی ووځي، ممکنه ده په آسانه دا ډله له منځه بوځم ځکه ټول نږدې سره ولاړ وو او له یو بل سره غږېدل. بیا مې فکر وکړ چې دوی شاید هیڅ زما په فکر کې نه وي خو بیا د سناپیر ډزې راپه زړه شوې چې پر ما کېدلې خو په نورو عسکرو نه، پوه شوم چې هماغه لیونی او عصبي راغلی او پوه شوی دی چې زه لا دلته یم. فکر مې وکړ چې له شا لارې ووځم او جګړه ورسره وکړم خو د دوی شمېر څلور کسان وو او یو څه ناممکنه وه چې زه دې بریالی شوی وای.

یو مامور وویل: روسان نږدې دي، ته څه ته منتظر یې؟ زر کوه چې ځو، ولې دې راوستو؟

- لږ صبر وکړه چې لوفټوافټ راورسیږي.

- نو څه پرې کوې؟ زموږ یې څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له غږ مې وپېژاند، هماغه عصبي مامور په لوړ غږ په جرمنۍ ژبه وویل: الکساندره! پوهېږم چې په همدې شاوخواو کې پټ یې، او چېرې نه یې تللی، زه تا او ستا ښایسته روسۍ سپینې واورې (سنو وایټ) ته یوه تحفه لرم.

وارخطا شوم، حواس مې بایللو ته نږدې وو، نه پوهېدم چې څه مې په انتظار کې دي، له ورسۍ لېرې شوم. انیلا سخته رېږېدله، هغه ته مې وویل: زه به ور ووځم خو ته ځان مه ښکاره کوه، هغې ټینګ ونیولم او نه یې پرېښودم چې ور ووځم، هغې ویل چې که وژل کیږو، په یوه ځای وژل کیږو دواړه.

بیا د ورسۍ په لور لاړم چې خبرې یې واورم، یوه مامور وویل: هغه دي الوتکې ښکاره شوې، د الوتکو له لیدل کیدو سره سم د بمونو غږونه له لېرې واورېدل شول او داسې ښکارېده چې روسان یې بمبار کړل او د ښار په لور را روانې وې.

هغه عصبي مامور مې ولید چې د لوګي بمونه چې سور لوګی یې تولیدولو، خلاص کړل او زموږ د بلاک په شاوخا کې یې دوه دانې وغورځول، د هغې څېرې ته ځیر شوم، په ټنډه باندې یې لوی تازه زخم و. دوی په دوو موټرسایکلونو پښې واړولې او په چټکۍ سره لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور لوګی خپور شو.

زه وویرېدلم او پوه شوم چې دا لوګي یې الوتکو ته سګنال ورکړ چې همداسې ساحه بمبار کړي. زړه مې سخته درزا کوله، حواس مې بايللي وو، د الوتکو غږ لکه د مرګ د پرېښتې د وزرو غږ ورو ورو رانږدې کېده، بمونه ولويدل، زلزله جوړه شوه، زه په ځمکه ولويدم، په سر کې مې درد شو او وروسته پوه نشوم.

په هوښ شوم، مخ مې په خاورو لړلی و، څه مې نه ليدل، غوښتل مې له ځايه پورته شم، په پښه کې مې سخت درد و. د لرګي يوه کوچنۍ ټوټه مې د پښې په غوښه کې ننوتلې وه او له بل لور راوتلې وه. کلک درد يې کاوه. تهکوي زموږ پر سر ړنګه شوي وه، ومې ليدل انيلا پر ځمکه غورځېدلې ده او د کانکريټ يو کاڼی يې په سر کې ننوتلی دی او په وينو کې پرته ده.

ځان مې ور کش کړ، ومې خوځوله، پوه شوم چې نه ده ژوندۍ، دا هغه لحظه وه چې ژوند له هغه وروسته راته ختم شو او په يو خالي جسد يې بدل کړم. ما نشول کولی چې وژاړم، يا چيغې ووهم. يوازې مې د هغې جسد ته ورکتل چې ترڅنګ مې پروت دی، له وينو ډک سر مې يې پورته کړ او په خپله غېږه پورې مې ونيو. په خورو ورو او له وينو ډکو زلفو باندې مې يې لاس واهه. زه جام شوی وم او داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکات مې کول لکه هېڅ چې نه وي شوي. د الوتکې بم زيرزميني ورانه کړي وه خو تصادف دا و چې د دې پرځای چې موږ په مطلقه توګه د کانکريټ لاندې شو، د تهکوی پورته لور ته د وتلو لاره جوړه شوي وه.

ښي لور ته مې وکتل، د ټوپک کنداغ مالومېده او بل لور ته غټه کانکريټي ټوټه پرې پرته وه، زورونه مې وهل چې ټوپک راوباسم او په يوه مرمۍ باندې ځان له دې جهنم څخه خلاص کړم، ما له انيلا سره وعده کړي وه چې که وژل کيږو يو ځای به وژل کيږو څو په بله دنيا کې سره يو ځای وو.

هڅه مې ناکامه شوه، بريالی نشوم چې ټوپک راوباسم او ځان پرې ووژنم، د نورو وسلو صندقونو بل لور ته تر کانکريټ لاندې شوي وو، توپانچه مې هم نه وه راسره. همداسې کېناستم او د انيلا مړه جسد ته مې کتل. نه پوهېږم چې څو ساعته به مې ورکتلي وي.

ساعتونه تېر شول، د بمونو او چاودنو غږونه نه وو، بهر وران ښار بېخونده منظره جوړه کړې وه. په آسمان الوتکې تېرې شوې، څو شېبې وروسته د ټانکونو د زنځير غږ شو، زه بې تفاوته وم، څه پروا يې کوله. اوس نو مرګ يو امتياز و، يو داسې امتياز چې کولی شي ما انيلا ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټانکونه تېر شول، پیاده عسکر هم پسې روان وو، دوی فاتح روسان وو چې ستالنګراډ ته راننوتلي وو، ټول په مخه روان و هاخوا دېخوا يې کتل. زما په لور د هېچا هم پام نه کېده.

ځينې عسکر به په ورانو ودانيو تقسيمېدل او کتل به يې چې څوک به نه وي، دوه کسان تهکوۍ ته نږدې شول، موږ ته يې راپام شو.

وارخطا عسکر په منډه راوکتل، ټوپک يې راونيو، ما د خپل سر په لور اشاره وکړه چې ډز راباندې وکړه، عسکر په روسۍ ژبه چيغې راباندې وهلې، دومره پوه شوم چې وايي چې لاسونه پورته کړه، تهکوۍ ته څو تنه نور عسکر راکوز شول، ما د لېونو په څېر خپل سر ته اشاره کوله چې ډز راباندې وکړئ، ومې وژنئ. داسې يو حالت و چې مرګ ته منتظر وم. دوی راکوز شول، ويې ليدل چې انيلا زما په غېږ کې پرته ده.

ما چيغې کړې، په جرمنۍ مې وويل: ما ووژنه ژر کوه. عسکر غوسه شول، د توپک په کونداغ يې په مټ ووهلم. دوی زه په زور له ځايه پورته کړم، حال دا چې په پښه مې لرګی ننوتی و، دوی زه له تهکوۍ په زور پورته کړم، لاسونه يې راباندې وتړل. کله يې چې له تهکوۍ ايستلم، يو ځل مې په شا وکتل او په آخر ځل مې د انيلا څېرې ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه معصومه پرېښته چې د دنیا د جبر له لاسه وژل شوي وه، ورته ځیر شوم څو لحظې مې ورکتل، په خپلو وینو کې لت پت وه، طلايي ویښتان یې په وینو شوي وو او ښکلي سترګې یې نورې پټې شوي وې.

عسکر کش کړم او له تهکوۍ یې پورته کړم. په لاره نشوم تللی، عسکرو په زوره کش کولم. یو عسکر د توپانچې ګېټ کش کړ چې ومې وژني، زه خوښ شوم او آرام ودرېدم خو دوی حیران وو، ما د ډار او زارۍ کوم عکس‌العمل ښکاره نه کړ، یوه یې وویل: دې هڅه کوله چې ځان ووژني، حتمن محرم اطلاعات لري، مه یې وژنئ. باید معلومات ورنه واخیستل شي.

سخت زخمي وم، لاسونه او پښې یې راوتړل او یو ځای ته یې بوتلم چې هلته د جرمني نور جنګي اسیران هم وو. دوی په زرګونه عسکر وو او د ستالنګراد په لور ننوتل. کله یې چې زه د اسیرانو کمپ ته بوتلم، هلته یو عسکر په روسي ژبه بل عسکر ته وویل: دې کس څو ځله غوښتل چې ځان ووژني، پام پرې کوئ، ښکاري چې مخفي اطلاعات یا راز ورته معلوم وي.

ډګروال لیاخوف د الکساندر خاطرات تر دې ځایه ولوستل، په کتابچه کې یوه نښاني کېښوده چې ځای یې ورک نه کړي، له تخت پورته شو، د کوټې څراغ یې ګل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

سلگونو کارگرانو په ضربه ضربه تیرې ماتولې، مارتولونه پورته ټیټ کېدل. بهر آسمان شین و خو سپینې واورې هرڅه پوښلي وو. شوروي افسرانو له پاس لوري نظارت کاوه او کارگران یې څارل. الکساندر هم مارتول واهه او تیرې یې ماتولې، هغه یو ملگری درلود، ویلیام.

ویلیام هم د ویرماخت یو لوړ رتبه قومندان و چې شورویانو د رایشستاگ سره نږدې په یوه جگړه کې اسیر نیولی و. هغه خوش‌طبیعته او مینه ناک سړی و، تور بریتونه او خریلي ږیره به یې پرېښوده خو د ضرورت په وخت کې همدومره خشن هم و.

حتی شوروي افسران یې هم ملگري کړي وو او ښه رویه یې ورسره کوله.

په دې ټولو کارگرانو کې یوازې الکساندر او ویلیام هغه دوه کسان وو چې له شورویانو سره یې نیک برخورد درلود، د شوروي عسکر هم ډېر بې رحمه وو، په ځلونو ځلونو یې د کار په جریان کې اسیر کارگر په ډزو وژلي.

ویلیام او الکساندر په گډه په کار بوخت و، ورو ورو خبرې یې کولې، ویلیام شاوخوا وکتل، عسکر لېرې ولاړ وو او کوم جرمنی هم نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الکساندر ته یې مخ ورنږدې کړ، په غوږ کې یې ورته وویل: خبر یې چې د پاځون پلان نیول شوی دی؟

الکساندر اندېښمن شو: څنګه او چا ترتیب کړی؟

- الکساندره! هوښیار اوسه، ځینې جرمنان پوه شوي چې موږ له شورویانو سره لږ ملګري یو نو دوی موږ څاري او حتی خبر کړي یې هم نه یو چې پاځون کیږي. یعنې ښه اعتبار نه لرو.

ویلیام لاړې تو کړې، ویې ویل: زه او ته په خطر کې یو، پام کوه!

الکساندر غلي وویل: پاځون چا طرح کړی؟

- نه پوهېږم خو یو کس یې ما له پخوا پېژندلو، د اېس اېس مامور و او یو بل غټ ټنډی عصبي دی چې پخوا یې په اېس اېس کې د جنایت ډېرې کارنامې پریښې. حتی په زندان کې یې هم خپل درې جرمنان وژلي وو. ځینې وایي چې شیطان هم پناه ترې غوښتي ده. یو بل کس راته ویلي دي چې د ستالنګراد په محاصره کې یې خپل نږدې ملګری وژلی و او د هغه غوښې یې وخوړې، ځکه چې وږی و.

الکساندر حیران شو، دا غټ ټنډی څه ډول څېره لري؟ چېرې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ډېر وخت د معدن په فلزکاري برخه کې وي، د ذوب په خونه کې وي، ملګري يې هم د هغه په څېر حيوانات دي.

- نو دا احمق نه پوهيږي چې پاڅون ناممکن دی؟ دلته هر کارګر تر نظارت لاندې دی چې بې ځايه وخوځيږي د سناپېر مرمۍ يې خدمت کوي. بايد هڅه وکړې چې د پاڅون مخه ونيسې کنه ټول وژل کيږو، دا ناممکنه ده.

- زه هم پوهېږم، بله دا چې خبر شوی يم چې د شوروي او نوي جرمني ديپلوماتيکو اړيکو له امله ممکن کارګران بېرته آزاد شي او ټول خپلو کورونو ته لاړ شي، که پاڅون وشي.

الکساندر موسک شو: ښه ټوکه دې وکړه خو بايد په يو شکل سره ډګروال لياخوف خبر شي چې د پاڅون پلان دی.

له لېرې يو شوروي عسکر غږ وکړ: ويليامه! دا دې د انا کور نه دی چې کيسې کوئ، خپل کار ته ورسېږه.

ويليام عسکر ته په روسی ژبه څه ځواب ورکړ او دواړو وخندل، الکساندر پوه نشو چې څه يې وويل؟

ويليام لاړ، الکساندر غږ پسې وکړ: آيا ويلی شې چې د دې کس ټنډه څه ډول ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیام لږ موسک شو او هغه عسکر ته یې وکتل، ژر یې وویل: څېرې ده! او لاړو.

الکساندر وارخطا او شکمن شو. د دومره لوی شر د پربا کېدو لامل ممکن د هماغه افسر غوندې کوم عصبي وي چې له امله یې انیلا ووژل شوه، په لسګونو پوښتنې یې ذهن کې پیدا شوې، آیا دی به وي. آیا دا تصادف به ممکن وي چې دی لا تر ننه ژوندی وي او هغه هم په دې کان کې یو ځای له دوی سره کار کوي؟

دا چې هغه د ستالنګراډ څخه نیول شوی و. شک یې په اطمینان اوښته، هڅه یې وکړه چې په څه پلمه فلزکاري برخې ته لاړ شي او د ذوب په خونه کې هماغه کس وویني خو دا کار ستونزمن و.

کارګرانو حق نه درلود چې وګرځي، د الکساندر امتیاز هم اخیستل شوی و، یوه عسکر ته یې په نیمه روسی ژبه غږ وکړ، د تشناب اجازه یې وغوښته. عسکر د خپل پتلون زنځیر خلاص کړ او داسې یې وښوده چې همدلته میتیازې وکړه... الکساندر له ځان سره وویل: بې تربیې.

خپل کار ته یې ادامه ورکړه، فکر یې وکړ چې که کوم شناخته عسکر په دې ځای کې وي چې د هغه په مرسته د ذوب خونې ته لاړ شي. ډېره هڅه یې وکړه خو کامیاب نشو. الکساندر په تشویش کې و: په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصل کې دا پاځون هسې کمعقلي وه او له عقل څخه لېرې کار و، هغه شرور فقط غوښتل چې کارگران په شوروي عسکرو ووژني، دې کان د کاسې په شکل و، بیا مارپیچ و، له بیخ څخه یې سر ته راتلل په لسگونه کیلومتره واټن و او د ټوکې خبره نه وه.

د کان په منځ کې یې چې هرڅوک وو، د عسکرو تر سل فیصده کنترول لاندې و .

الکساندر ته جالبه وه، هغه شرور نازي افسر څنگه داسې آسانه انگېرلي وه، بس نو عصبي و. د الکساندر تلوسه ډېره شوه غوښتل یې چې پوه شي چې دا کس څوک دی او باید مطمئن شم چې آیا د انیلا قاتل دی کنه؟

صبر یې تمام شو، د کار ختم ته ۸ ساعته پاتې وو، مارتول یې په مټ کېښود، روان شو. عسکر غږ کړ: ودرېږه!

الکساندر مستقیم د عسکر په لور ور روان و، عسکر توپک له مټې کوز کړ او د الکساندر په لور یې ونیو. چیغې یې کړې: ودرېږه کنه په سر دې ولم.

الکساندر ودرېد، لاسونه یې پورته کړل، چیغه یې کړه: ډگروال لیاخوف!

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر سر وښوراوه، لکه چې پوه نشو، الکساندر په نیمايي روسی ژبه وویل: ډګروال لیاخوف...ملاقات...ضرور!

عسکر غوسه و، سر یې وښوراوه او د الکساندر له دې کار ناخوښ و. له لاس یې ونیو. لاسونه یې ولچک کړل. د نظارت ټیم ته یې مخابره وکړه، بیا یې اشاره وکړه چې تللی شې. د کان سرته پورته کېدل هم ډېر ستونزمن کار و، الکساندر په نیمه روسي ژبه وویل: عاجل ډګروال لیاخوف. موټر؟

موخه یې دا وه چې باید په موټر کې د کان تر سر پورې وخېژي، عسکر نور هم غوسه شو. د الکساندر خبرې ته دقیق شو، په غوسه یې وویل: ته لعنتي څه مشکل لرې؟

الکساندر پوه نشو، عسکر یو بل کس ته غږ کړ، هغه یې پوه کړ چې باید په موټر کې یې ورسوي، بیا یې په روسي ژبه وویل: که چېرته دې عبث وخت ضایع کړی و، سخته جزا به درکړم.

الکساندر دوه زړی و چې اول د ذوب خونې ته لاړ شي که د ډګروال لیاخوف دفتر ته، فیصله یې وکړه چې ډګروال باید ووینې.

لاری موټر روان شو او د کان سر په نیم ساعت کې پورته شو، الکساندر یې له موټر کوز کړ. لاسونه یې تړلي وو، د ډګروال دفتر لور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې روان کړی و. د ډګروال د دفتر دروازه يې خلاصه کړه، بيروبار و، نور خلک هم راټول شوي وو. عسکر ډګروال ته وويل: ډګروال صاحب! الکساندر غواړي چې ضرور درسره وګوري. ډګروال وويل: اجازه ورکړه.

الکساندر ننوت، کوټه کې يې په ويليام سترګې ولګېدې چې يوې ګوښې ته ولاړ دی، دوه کسان لاس تړلي په ځمکه په ګونډو ناست دي، درې پوځي شوروي افسران هم وو. دروازه پورې شوه، الکساندر پرته له دې چې څه ووايي د دوو لاس تړلو کسانو څېرو ته ځير شو. يوه څېره آشنا ورته ښکاره شوه، صحنې ورپه زړه شوې: د ټوپک د کنداغ صحنه چې د يو نازي افسر ټنډه يې ماته کړه، د لوګي بمونه چې سره لوګي يې جوړ کړل، د انيلا شنې سترګې او په وينو لړلي طلايي وېښتان...

لاس تړلی کس يې وپېژانده، د معشوقې قاتل يې و. ځان يې کنترول نشو کړای، په لاس تړلي کس يې ټوپ وراچوو او چپه يې کړ، خولې ته يې څو سوکونه ووهل. ويليام او څو نورو افسرانو ژر راپورته کړ او بېل يې کړ، الکساندر په ژړا و او ځان يې هغه کس ته ور کش کاوه. په ژړا ژړا يې فرياد کاوه: اې لعنتي! زه دې وپېژندلم، هماغه يم چې زما معشوقه دې د الوتکو د بمونو خوراک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال لیاخوف چې اول غوسه و، وروسته حیران شو او یوازې ننداره یې کوله. د الکساندر په لور یې لاس پورته کړ: ارام شه الکساندره!

الکساندر چې ځان کابو کړ، فقط یې له انتقام په ډکو سترګو د هغه پخواني نازي عسکر په لور کتل، هغه چې اوس یې ببره زیږه ږیره نیولي وه، په ټنډه باندې یې لوی داغ و... فقط یې خندل او خیرن زیړ غاښونه یې ښکارېدل، ویې ویل: نه ملګریه زه نه پوهېږم چې ته څوک یې ځکه چې ما ډېر خلک د الوتکو په بمونو ښکار کړي دي. ډېره خوندوره صحنه وي، یو لوګی بم چې سره لوګي وکړي، څو دقیقې وروسته هماغه ساحه باندې بمونه راولویږي، دا عالي منظره ده چې ما ډېر عمر خوند ترې اخیستی.

ډګروال لیاخوف چې تر اوسه دې تصادف ته حیران و، توپانچه یې راوباسله، ګېټ یې کش کړ، د الکساندر په لور یې ونیوه، ویې ویل: که مطمئن یې چې هماغه وو، همدا اوس یې ووژنه.

الکساندر چې لړزېده او ډګروال ته یې وکتل.

توپانچه یې ورڅخه واخیسته. ډګروال وویل: راځئ چې بهر ووځو، زما د دفتر فرش ډېر نوی دی، نه غواړم چې د یو نازي خوک په وینو ولړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو شېبې وروسته د نازي افسر په سر باندې الکساندر توپانچه نیولي وه، لاس یې لړزېدل. د دې پرځای چې ډز وکړي، په ژړا یې وویل: آیا ستا لعنتي وژل به د دې لامل شي چې زما انیلا بېرته راوګرځي. بیا یې ژړا زور واخیست، ډګروال او ویلیام یو بل ته کتل او منتظر وو چې الکساندر به کله ډز کوي.

الکساندر فقط ژړل، توپانچه یې له لاس ولوېده او کېناست، ډګروال چې د تل په څېر یې ډبل سګرټ په لاس کې و، په الکساندر غږ وکړ: ګوره الکساندره که توپانچه نه وي مناسبه، اور توغوونکی(برنر) به راوړو، که اشتها یې لرې ژوندی یې وسوځوه. زړه به دې سوړ شي...

الکساندر ژړل او لړزېده، ځواب یې وانه ورېد. ډګروال توپانچه له واورې راپورته کړه، د نازي افسر سر ته یې ونیوه، ډز شو. جسد په ځمکه ولوېد، وروسته یې هغه بل کس هم راوست چې د پاڅون طرح یې درلوده، دواړه یې څنګ په څنګ ووژل.

بیا ډګروال یو بل عسکر ته غږ کړ، د دې حیواناتو جسدونه هم انتقال کړئ، کرچکوف ته ووایئ چې راپور ولیکي چې دوه کسان د پاڅون په جرم ووژل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال لیاخوف، ویلیام ته لاس ورکړ او ویې ویل: دا دې ډېره لویه همکاري وکړه ویلیامه! مننه کوم.

ویلیام وویل: هیله کوم ډګرواله، بیا یې وویل: د ډګروالۍ پرځای باید د سرآشپز دنده هم درکړل شي ځکه داسې ښکاري چې د کبابونو په پخولو او سوځولو کې ماهر ښکارې، بیا یې وخندل او تور بریتونه یې وغوړېدل.

ډګروال اول ورسره وخندل خو وروسته لږ غوندې غوسه شو خو د غوسې اظهار یې ونکړ ځکه ویلیام همداسې ټوکي سړی و. ځواب یې ورکړ: په تا دې هم لعنت وي چې پوځ ته تللې، باید ټوکمار وې.

الکساندر همداسې په واوره کې ناست و او نه خوځېده، ډګروال ویلیام ته اشاره وکړه چې الکساندر له ځان سره بوځي. ویلیام الکساندر ته لاس ور اوږد کړ او راپورته یې کړ. عسکر راغی، بروتي ویلیام خپل لاسونه ورکړل، لاسونه ولچک شول. ویلیام وروځې پورته کړې.

الکساندر د هغه نازي افسر مړي ته ودرېد، ویلیام وویل راځه نو، له دې سره ستا څه مسئله وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګروال په ویلیام او الکساندر غږ وکړ: داسې ښکاري چې ډېره لږه موده به راسره مېلمانه وئ.

ویلیام وروځې پورته کړې، له ولچکو ډک لاس یې خپل غوږ ته یووړ او خپل غوږ یې پاک کړ، ویې ویل: لکه چې یو څه مې غلط واورېدل؟

ډګروال اسوېلی وایست: ښاغلی کنراډ (د شرقي جرمني چانسلر) مسکو ته په نږدې وخت کې سفر لري او ډیپلوماټیکو اړیکو د رغولو په نیت د شوروي دولت غواړي چې په معدنونو کې ټول جنګي اسیران بېرته جرمني ته تسلیم کړي.

ویلیام موسک شو ویې ویل: که زه له دې ځایه لاړ شم، نو لومړی کس چې ډېر به مې یاد شي ته یې. بیا یې ترخنګ عسکر چې دی یې په لاس نیولی و، اشاره وکړه: او دا عسکر به مې هېڅ کله یاد نشي... عسکر ته یې په روسی ژبه وویل: فکر نه کوم چې په چا به ګران وې.

ډګروال موسک شو. د الکساندر په سترګو کې همداسې اوښکې وې، غږېدلی نشو، یوازې یې ډګروال ته د مننې په پار سر وښوروه. دواړه د کان په لور کوز شول. د لارې په جریان کې ویلیام له الکساندر څخه وپوښتل: ستا او د هغه کس ترمنځ څه کیسه وه؟ الکساندر کیسه ورته پیل کړه. دوی د کان په لور کوز شول، ویلیام ډېر خوښ و، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کار ساحې ته ورسېد نو په لوړ غږ یې وویل: څنګه یاست احمقانو؟ تاسو غوښتل چې پاڅون وکړئ او مړه شئ، زه ښه خبر درته لرم: په څو ورځو کې به د کورونو په لور ځو.

کارګران غلي وو او حیران حیران یې د هغه په لور کتل. بیا یې وویل: څنګه باور نه کوئ، همدا اوس ډګروال راته وویل چې د شرقي جرمني چانسلر به موږ آزاد کړي.

له دې خبرې وروسته د کارګرانو ترمنځ خبرې پیل شوې او خبرې ورو ورو په خوښۍ واوښتې، د کارګرانو د خوښۍ چیغې شوې او نڅاګانې یې پیل کړې، عسکرو تاکید کاوه چې کار وکړي خو ځینو کارګرانو به په عسکرو غیږې ګډې کړې او په غیږ کې به یې ونیول، عسکرو به د توپک په زور له ځان څخه لېرې کول.

ډګروال لیاخوف له برنډې څخه دوربین د کان په لور نیولی و، سر یې وښوروراه، له ځان سره یې غلي وویل: احمقه ویلیامه! بیا دې ټول خبر کړل.

د ډګروال ترڅنګ عسکر وویل: فکر کوم دوی د جرمني وروستي جنګي اسیران دي چې له موږ سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- هو، ما وپوښتل په زرگونه نور کسان یې بېرته جرمني ته انتقال کړي دي. پوهېږې افسره، دا کارگر چې د خوښۍ کومې چیغې وهي، دا احساس یو داسې احساس دی لکه له سره چې وزېږېږې او نوی ژوند پیل کړې.

- آیا تاسو تر اوسه تجربه کړئ؟

- هو، په ۱۹۴۳ز. کال کې د یو لړ ځانگړو مشترکو عملیاتو په لړ کې د چین یوې سیمې ته تللي وو چې د جاپانیانو تر کنترول لاندې وه، دوی ډېر سخت بې رحمه وو. زه یې ژوندی ونیولم، لاسونه یې راوتړل، یوه غټه توره یې راوړه چې سر راڅخه پرې کړي، هغه توره مې چې ولیده نو لړزې واخیستم او عزرائیل مې په خپلو سترگو ولید خو په هماغه شېبو کې انگریزان راورسېدل او زه له مرگ څخه بچ شوم، په هغه غټه توره چې څو دقیقې مخکې یې په لیدو لړزې اخیستم، ما میوه پرې نیمه کړه او د انگریزي کوماندویانو مېلمه پالنه مې وکړه. هغه وخت ما فکر وکړ چې ژوند ختم شو خو د انگرېزانو راتگ نوی ژوند راوباښه.

- نو چاپان ته یې ولې ولېږلې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- جاپاني مې لړه زده وه، ممکن مرسته یې راسره کړې وای.

ځوان عسکر موسک شو.

ډګروال د خپل دفتر په لور لاړ، د خوب کوټې ته ورغی، کتابچه یې راواخیسته، بېرته دفتر ته لاړ، خلاصه یې کړه:

... شوروپانو په ستالنګراډ کې د ویرماخت شپږم پوځ مکمل تسلیم کړ او په زرګونو جنګي اسیران یې ونیول، ما په خپلو سترګو ولیدل چې په ورځ کې به له لسو څخه ډېر جنګي اسیران وژل کېدل ځکه به دوی باندې به یو څه ثابت شول، شوروپانو به ویل چې دوی جنګي جنایتونه کړي دي او د هغې سزا ورکوي خو کوم حالت چې ما ولید، داسې معلومېده چې قضاوت به ځینې وخت چټک و او ډېر ژر به د مرمیو خوراک شول. د اجباري کار کمپونو ته د لېږد په وخت کې مې ډېر ځله ولیدل چې ځینې جرمني بندیان به یخنۍ ووژل یا به هم ناروغۍ مړه کړل. زما پښه چې زخمي وه، مخ په روغېدو وه خو یوه ورځ څو شوروي عسکرو جلا ځای ته بوتلم او پوښتنې یې پیل کړې: ولې دې غوښتل چې ځان ووژنې؟ کوم محرم اسناد درمعلوم دي؟ زه چې ذهناً ځپل شوی وم، ډېر وخت نشوم غږېدلی نو سخت به یې شکنجه کولم، حتی څو ځله یې زخمي پښې ته په اوسپنیزه میله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت سخت ووهلم او پښه مې ډېره التهابي شوه. ما په ډېرو کانونو کې اجباري کار وکړ لکه  د کولیما او ګورکاټا کانونه.

هلته کوم امید نه و، هرڅه تیاره وو راته، حتی د ځان وژنه هم حل لاره نه معلومېده، داسې ځپل شوی وم چې د آرام ذهن درلودل یو خوب راته ښکارېده.

څو ځله موقع په لاس راغله چې ځان ووژنم خو یواځینی شی چې زما مخه یې نیوله، د مور خبره مې وه چې را په زړه به شوه. له ځان سره به مې وویل چې ممکن مور تر اوسه ژوندی وي. که هغه ژوندی وي نو شاید کومه معجزه وشي او ور ورسېږم. وروسته خبر شوم چې د جنګي اسیرانو د آزادېدلو آوازې له هماغه پیل ګډې شوې او ویل شوي وو چې د ویرماخت کوم عسکر چې د جنګي جنایت سابقه ونلري، شوروي یې آزادوي. دې خبرې لږ امید راکړ او پرېکړه مې وکړه چې باید ځان وژنه ونکړم. د انیلا دیدار خو هسې هم کوم ځکه هر انسان مړ کیږي او هېڅوک دائمي ژوند نه لري. د څه لپاره چې ژوندي یو، دا یوازې کورنی ده، همدا کورنی ته چې د ژوند لپاره یو دلیل ګرځېدلی شي کنه پرته له کورنی ژوند هم ستونزمن کیږي. زما په آخر ځل د مور خبره په زړه ده چې په ژړا کې یې خدای پاماني راسره کړي وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېده چې ژوندی نه راګرځم ځکه زما پلار هم په غربي جبهه کې په لومړۍ نړۍوالې جګړه کې وژل شوی و.

یو ځل بیا وایم، مرګ ته ډېر خلک د اذیت کوونکي شي په توګه ګوري خو که له بلې زاویې ورته وګورو، کېدای شي چې د یو امتیاز په توګه هم ورته وګورو. ما د جګړې په جبهو کې هغه عسکر ولیدل چې اور یې اخیستی و نو زر به یې په خپل توپک ځانونه وویشتل چې د اور له سوځېدلو څخه بې غمه شي. دلته ممکن عادلانه کړنلاره وي خو بیا ډېر وخت مرګ ربښتیا هم اذیت کوونکی وي، مثلاً د انیلا په څېر مهربانې او ښکلي پیغلې ته چې ډېر ارمانونه لري، مرګ ډېر ځورونکی او ناځوانه څیز دی.

ماته د ښوونځي دوران یو استاد ویلي وو چې مرګ په اصل کې نوی پیل دی، فنا کېدل نه دي، بلکې بدلېدل دی. داسې مثال یې راکړ لکه کاغذ چې وسوځېږي په لوګي بدل شي، دا لوګي او ایرو ته بدلېدل په اصل کې یو نوی پیل دی. کله چې انسان مړ شي نو هغه له منځه نه ځي بلکې یو نوی ژوند پیلوي چې د هغه ژوند ماهیت او حقیقت باندې زموږ محدود عقل نه پوهیږي خو ممکن د مرګ لپاره نور مثالونه هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برلین په ښار او زموږ په کلي کې چې برلین ښار ته ډېر نږدې و، ما ولیدل چې جرمنان ډېر زحمت کش او ځیرک خلک وو. دوی ټول عمر زیار ګاله چې د یو آسوده ژوند لپاره ځانته وسایل آماده کړي، د دوی استعداد او ځیرکتیا سمه استعمال نه شوه بلکې عصبي ناروغانو (سیاسیونو) د دې لپاره استعمال کړه چې خپل اهداف پرې تطبیق کړي. زما په زړه دي، کله چې د تعمیرونو غوندې لوی لوی ریل ټانکونه او همدارنګه ټایګر پانز ټانکونه جرمني تولید کړل نو په یوه غربي ورځپاڼه کې ادعا شوي وه چې جرمنان له فضایي موجوداتو سره اړیکه لري او دوی دا وسلې ورته جوړوي.

د جګړې په اړه ترټولو ناوړه دا ده چې فقط ځوانان پکې وژل کیږي او هلته سپین‌ږیري قومانده ورکوي، داسې سپین ږیري چې خپل زامن یې په جبهو کې نه وي، د ویرماخت پوځ کې قانوني عمر له اتلسو څخه تر پنځه څلویښتو پورې و. په دې مانا چې باید په جګړه کې فقط ځوان ووژل شي.

زموږ انسانانو چې یو بل نه وي خوښ نو د خدای راکړي طبیعت د وسایلو په واسطه یو بل له مینځه وړو، خپله بغض او کینه مو د دې سبب شي چې طبیعت په منفي لاره وکاروو. کله چې خبر شوم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جاپان باندې اتومي بم کارول شوی نو ماته د یوې داسې وسلې جوړول بيخي جالب وو چې یو ښار مکمل تباه کړي.

وروسته خبر شوم چې همدا تکنالوژي کولی شي چې برق هم تولید کړي، دلته مې د انسان حماقت ته پام شو، د دې پرځای چې موږ طبیعت د خپلې آسودګۍ لپاره استعمال کړی وئ او برق مو پرې تولید کړی وای، موږ د یو بل وژلو لپاره کار ترې واخیست او په خپلو منځونو کې مو سره ووژل.

زه په ساینس نه پوهېږم او په مکتب کې مې هم له ریاضۍ او فزیک بد راتلل خو کله به چې خبرېدلو چې جرمنانو د کوانټ و که څه نومېده، د فیزیک کوم ډول و، د هغه بنسټ ایښودلی دی، وروسته نور پرمختګونه له جګړې مخکې، دا ټول ډېر ښه روان وو، دریغه چې جګړه نه وای شروع شوي، کنه نور به څومره مثبت پرمختګونه رامنځته شوي وای، د علم پرمختګ خو یوازې په یوه ملت پورې نه منحصر بلکې دا د ټولو انسانانو ګډه لاسته راوړنه ده، مثلاً لکه برق، د بخار ماشین او نور شیان.

زه نه پوهېږم چې دا خاطرات به مې څوک ولولي که نه خو که زما له مرګ وروسته څوک یې لولي هم، هیله لرم چې په ځمکه به ټول جنګونه پای ته رسېدلي وي او ټول انسانان به په سوله کې ژوند کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مې يوازې د دې لپاره وليکل چې زړه مې د قلم د رنګ له لارې تش کړم او د انيلا ياد پکې تازه کړم، بل خاص مقصد مې نه درلود.

ځکه مې ډېر ونه غوښتل چې له دې وروسته خاطرات وليکم چې د انيلا له مرګ وروسته هرڅه راته بې تفاوته شول، ښه او بد کيسه کې نه وم. هرڅه چې پېښېدل پېښ شوي دې وای خو  پوښتنه دا ده چې آيا ممکنه ده چې مور به مې ژوندۍ وي؟ آيا وبه کولی شم چې ويې وينم؟ آيا دا به ممکنه وي چې له دې کانونو څخه کومه ورځ ووځم؟ اوس ژوند بې معنا دی، خو د مور تصوير کولی شي چې په اوس وخت کې زما ژوند ته يو دليل وګرځي، هغه ماته ارزښت لري او که چېرته ممکنه شي چې ويې وينم، نو شايد ژوند بيا هم معنا راته پيدا کړي.

د خاطراتو پای

ډګروال لياخوف د کتابچې نورې پاڼې واړولې چې ځينې شعرونه په جرمني ژبه پکې ليکل شوي وو. ويې لوستل، کتابچه يې پورې کړه... څو شېبې غلی و او په ځير ځير يې د کتابچې پاڼو ته کتل چې ځينې يې په وينو لړلې وې. په فکرونو کې ډوب و.

وروسته له هغې چې د شرقي جرمني دولت چانسلر کنراډ اډېناور د جنګي اسيرانو ديپلوماتيک ګام اخيستی و، په کان کې له کارګرانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شدت کم شو. کارگرانو ورځې حسابولې چې کله به له دې کان څخه وځي.

شین آسمان، سپینه واوره او نری نری خو سوړ باد و. ویلیام او الکساندر په لوړ ځای ناست و او د مارپیچ کان نندارە یې کوله، دواړو ډبل سګرټ په خوند سره کش کول، ویلیام وویل: دا دوه سګرټ مې د ډګروال له دفت راپټ کړل.

بیا یې وویل:

ما فکر نه کاوه چې جرمني دې بېرته رامنځته شي او که رامنځته هم شي تر دې کچې چې بېرته دې دیپلوماتیکې اړیکې جوړې کړي؟

الکساندر سپینه دوړه یې له خولې او پوزې وباسله، ویې ویل: آیا تا دا نوی چانسلر کنراډ اډېن‌آور چېرته لیدلی و؟

- نه.

- فکر کوم محترم او هوښیار کس به وي ځکه چې له شوروي سره یې بېرته اړیکې عادي کړي دي او موږ چې آینده ته کوم امید نه درلود، د هغه له برکته دا دی امید شته چې بېرته به کور ته ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیامر سر وښوراوه، د سگرټو له امله وټوخېد، بیا یې وویل: آیا ته کورنۍ یا بل څوک لرې چې بېرته ور وگرځې؟

- د برلین سره نږدې کلي کې مې کور و، هلته مې مور وه. نه پوهېږمر چې هغه به ژوندۍ وي کنه؟ ستا څنگه؟

- زه همر نه پوهېږمر، زما څلور لوڼه او مېرمن په آخر ځل کې په برلین کې په یوه آپارتمان کې وو چې اوس به وي کنه؟

دواړه د آسمان په لور کتل، دواړو مخونه وگرځول، ویې لیدل چې په لسگونه بسونه راښکاره شول چې د کان په لور را روان دي. الکساندر وویل: دا څه دي؟

- دا روسي کارگران دي چې زموږ پرځای به نور کار کوي، له ډگروال مې اوریدلي وو.

- نو موږ به څه کوو؟

ویلیامر وخندل: موږ به تفریح وکړو.

د ویلیامر او الکساندر په جگړه وهلو او خیرنو مخونو د امید موسکا خوره وه، داسې لکه یو څوک چې له مرگ ژغورل شوی وي او نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې یې پیدا شوي وي. دواړو کلنګونه او بېلونه واخیستل او کوز شول ترڅو وګوري چې نوي جزئیات څه دي؟

سبا ورځ ډګروال لیاخوف په تیلیفون غږېده، هدایت ورته وشو چې کارګران چې شمېر یې شاوخوا زرو کسانو ته رسیږي، باید په هماغه بسونو کې د مسکو په لور روان شي. په کارګرانو باندې خوښي ګډه وه، مخونه خندان وو.

څو ساعته وروسته کارګرانو ته امر وشو چې خپل وسایل راټول کړي او د بسونو په لور لاړ شي، د دوی منظم قطارونه جوړ شوي وو او د بسونو په لور په نوبت روان وو. د ډګروال لیاخوف په دفتر کې ویلیام او الکساندر دواړه درېدلي وو او له ډګروال سره په خبرو بوخت و.

الکساندر وویل: ډګرواله! ته په ما ډېر مهربان وې، نه پوهېږم چې دا ښه دې څنګه جبران کړم. ستا مهرباني به ترمرګ پورې زما په زړه وي.

ډګروال موسک و، زیاته یې کړه: فکر کوم ستا یو امانت له ما سره پاتې دی، د مېز روک یې کش کړ، کتابچه یې راوباسله او الکساندر ته یې ونیوه. الکساندر د کتابچې په لور ځیر شو، رنګ یې تغیر شو خو ژر یې وخندل، مننه یې وکړه او له ډګروال څخه یې کتابچه واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیام هم څو خبرې ورسره وکړې، الکساندر وویل: ډګروال! آیا کولئ شم چې ستاسو پستي آدرس راسره وي؟ ډګروال موسک و، په کاغذ باندې یې خپل آدرس، پستي آدرس ولیکه. بیا یې وویل: په برلین کې تاسو ته غونډه نیول کیږي، هلته هم سره لیدلی شو.

الکساندر وویل: نه پوهیږم چې زما کور به سالم پاتې وي کنه، خو دا زما آدرس دی ممکن هلته سره پیدا کړو. هر وخت که جرمني ته راغلې نو باید زما کور خپل کور وګڼې.

یوه دوستانه او صمیمي فضا خپره وه، خدای پامانی واخیستل شوې، د ډګروال په سترګو کې لړې اوښکې انبار وې. بیا یې په ژړا غونډې غږ وویل: نه پوهیږم، زه بوډا شوی یم او زړه مې نازک شوی دی، ستاسو تګ ما خپه کوي، نه پوهیږم چې ولې؟ له خپل میز راتاو شو او الکساندر یې په غېږ کې ونیو، الکساندر د حیرت احساس وکړ خو ټینګه غېږه یې ورکړه. همداسې بروتي ویلیام هم غېږه ورکړه. دوی د ډګروال له دفتر ووتل، دواړو له پاس لوري څخه کان ته وکتل، ورته ځیر شول، ویلیام د کان په لور پوځي سلام وکړ خو الکساندر سر وښوراوه او د ویلیام دا کار یې خوښ نه شو. دواړه کوز شول.

دوی په بس کې کېناستل، د ډګروال لیاخوف په لور یې کتل چې په لوړه برنډه ولاړ دی او دوی ته ګوري، الکساندر او ویلیام لاسونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای پامانۍ په توګه ورته پورته کړل. بسونه روان شول، په لسګونه بسونه د واورو په منځ کې په تور سړک روان شوي وو. څو پوځي موټر هم په ورسره روان وو.

الکساندر او ویلیام څه دقیقې چُپ وو، په بس کې ناستو کسانو خبرې کولې او ټول خوښ وو. الکساندر وویل: زه نه پوهېږم، ژوند څومره جالب دی. د جګړې جبهې دې په زړه دي؟ له همدې شورویانو سره موږ څومره سخت سخت وویشتل او یو بل مو وژل خو نن بیا داسې وخت شو چې له یو بل څخه جلا کېدلو نو یو په بل پسې خپه وو.

ویلیام چې خندان سړی و، نور هم خوشاله و، څېره یې له خوښۍ ځلېدله، ځواب یې ورکړ:

- خبره د سیاست ده، سیاست د انسانانو ترمنځ پولې رامنځته کړې او موږ یې ووېشلو.

شاخوا په واورینو غرونو باندې شنې ونې وې چې ښکلې منظره یې جوړه کړې وه، الکساندر وویل: اول مسکو ته ځو؟

- هو.

بسونه همداسې څو ساعته روان وو، شاخوا د استوګنې کورونه نه وو، ډېر وخت وروسته کورونه او کلي ښکاره شول، بسونو په ساعتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزل وکړ او مسکو ته ورسېدل. په مسکو کې شاخوا سره بیرغونه ځوړند وو، ټول سړکونه یې نیولي وو. په مسکو کې له بسونو ښکته شول او د ریل ګاډیو په لور انتقال شول. ریل ګاډی حرکت وکړ او له مسلسل مزل وروسته بیلاروس، پولنډ او پسې جرمني ته ورسېدل. د مسیر په ځینو برخو کې واورې وې، ځینو ځایونو کې غرونه او شنې ونې.

د سیند ترڅنګ ریل چټک روان و، د جګړې د ورانۍ پخوانۍ نښې پاتې وې.

الکساندر په همدې مسیر دیارلس کاله پخوا د ویرماخت په یونیفورم او زغره‌وال ګاډي کې کې له شپږم پوځ سره د ستالنګراد په لور تللی و. الکساندر ته تېر دیارلس کلونه فقط د یو کابوس په شکل ښکارېدل.

د رېل مسیر له مسکو څخه سمولینکس ته، بیا وارسا(پولنډ) ته او ورپسې څو نورې سیمې بیا فرانکفورټ و.

کله چې ریل ګاډی جرمني ته داخل شو نو په بس کې ټولو بندیانو د خوښۍ چیغې پیل کړې، د الکساندر هیڅ باور نشو چې بېرته د کور په لور روان دی، د خوښۍ اوښکې یې تویولې. څو ساعته وروسته ګاډی په فرانکفورټ کې ودرېد، جرمني کې ډېر څه بدل شوي وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې ځایونه همداسې ویجاړ پاتې وو او ځینې تعمیرات د جوړېدلو په حال کې وو. په تمځایونو کې به کارګران ځای ځای ښکته کېدل، د هر کلي لپاره ډېر خلک ورته راټول شوي وو چې ګلان یې پرې شیندل.

ویلیام، الکساندر ته وویل: زما او ستا مسیر د برلین په لور دی. دوی تر ډېره په یوه مسیر کې وو، کله چې د الکساندر کلی نږدې شو، نو شاوخوا یې داسې کتل لکه د کلي دیدار ته چې تږی وي او وارخطا غوندې و، داسې ښکارېده چې خپلې مور په فکر کې و، ایستګاه راورسېده، له ویلیام سره یې خدای پاماني وکړه او یو بل ته یې وعده ورکړه چې په برلین ښار کې به سره ګوري.

کله چې له ټرېن ښخه کوز، نور کارګران هم ورسره ښکته شول، ډېر خلک راټول شوي وو او ګلان په لاس ورته درېدلي وو. ځینو به خپلوان پکې وپېژندل او یو بل ته به یې غېږه ورکړه. الکساندر شاوخوا کتل خو څوک نه وو چې هرکلی یې وکړي، ټولې مېرمنې یې تر نظر تېرې کړې خو مور ته یې پام نشو، څو لحظې غلی ولاړ و، چا غږ پرې وکړ: الکساندر!

شاته یې وکتل چې مور یې وه، عصاء په لاس ولاړه وه، کله یې چې ولیده، دواړو بې کنترولە وژړل او یو بل یې په غېږ کې ونیول. مور یې بوډۍ شوي وه، تر ډېره یې یو بل په غېږ کې نیولي وو او دواړو ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې وروسته يې مور په مخ باندې لاس وواهه: څومره ډنګر/لاغر شوی يې!

الکساندر هم خپله مور له سر تر پښو وکتله، بوډۍ شوي وه او غږ يې هم بدل شوی و.

الکساندر فقط ژړل. مور يې په ډېره ستونزه په لاره تلله، د الکساندر پام شو چې د مور په پښه کې يې مصنوعي پښه ده او پښه يې قطع شوي ده. الکساندر همداسې په سترګو کې اوښکې راټولې وې. مور يې ټکسي ته اشاره وکړه او دواړه په ټکسي کې کېناستل. څو دقيقې کور ته لاره پاتې وه، شاوخوا هرڅه بدل شوي وو.

کلي ته ورسېدل، ډېره موده وروسته يې خپل کور وليد، داسې ښکارېده چې برخه يې ورانه شوي وه او بېرته ترميم شوي وه. په زراعتي ځمکو کې د څو ټايګر پانزر ټانک اوسپنه پاتې وه. کور ته نږدې شول، له موټر ښکته شول.

الکساندر حيران حيران شاوخوا کتل، سترګې يې د خپل پخواني يهودي ملګري په کور ولګېدلې چې فقط څو وران ديوالونه يې پاتې وو. ناڅاپه يې هغه صحنې ذهن ته راغلې: برنر، اېس‌اېس عسکر، اور او د ملګري چيغې يې چې د اور لمبو سوځاوه. د هغه کوچنۍ خور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوډا والدينو معصومې څېرې چې پوځيانو موټر ته خېږول. يو ځل يې بيا وضعيت د ژړا په لور روان و خو ځان يې سم کړ. مور يې بدرګه کړ او کور ته ننوتل. د خپل کور ماحول يې يو څه بدل شوی و، شاوخوا يې کتل.

خپله کوټه يې وليده چې په خپل شکل وه خو چت يې بدل شوی و. مور يې په ميز کلچې او شيدې ورته کېښودې، الکساندر ورته کېناست، ويې ويل: ديارلس کاله وروسته ستا کلچې خورم، باور مې نه کيږي. مور يې خوشاله وه او مخامخ ورته کېناسته او خپل زوی ته يې په مينه کتل. بهر د مارغانو چغا، شين چمن او صاف آسمان يوه عالي منظره جوړه کړې وه...

څو اونۍ وروسته د برلين په ښار کې يوه غونډه وه چې ډېر کسان پکې راټول شوي وو، برلين د پخوا په څېر نه و پاتې، ځينې ودانۍ يې همداسې ويجاړې وې خو نورې رغول شوي وې. باران و او ښار يې تياره کړی و، په يو تالار کې خلک راټول شوي وو، يو کس وينا کوله او پر سټېج ولاړ و، دی کونراډ اډېنآور و، د شرقي جرمني چانسلر.

له وينا وروسته يې د جګړې بنديانو ته سره مجلس کاوه، د الکساندر په شمول نور آزاد شوي بنديان هم په قطار درېدلي وو،چانسلر په نوبت له ټولو سره ستړي مشي کوله، ټول ګډونوال خوښ وو. ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوروي چارواکي هم لیدل کیدل. په دوی کې ډګروال لیاخوف هم ښکاره شو. الکساندر او ویلیام لا خوښ شول چې ډګروال یې ولید.

د غونډې له ختمېدو وروسته ویلیام او الکساندر له ډګروال سره ستړي مشې وکړه، ویلیام په شوخی ډګروال ته وویل: داسې ښکاري چې مرکزي کمیټې دې بست بدل کړی دی او له نورلیسک کانونو څخه یې بدل کړی یې؟

ټولو وخندل، ډګروال وویل: له کان څخه د جرمنانو له وتلو وروسته د هغه ځای خوند نه و پاتې.

ډګروال لیاخوف له لېرې څخه چانسلر ته اشاره وکړه او الکساندر ته یې وویل: وګوره! ما درته ویلي وو چې ټول سیاسیون اړتیا نه لري چې باید شفاخانو ته لاړ شي، ځینې باید د دولت چارې سمبال کړي چې جنګي بندیان را خلاص کړي.

الکساندر سر وښوراوه: ستاسو خبره پرځای ده ډګروال، قضاوتونه توپیر کوي. دوی د چانسلر په لور ورکتل چې هاخوا له لوړپوړو چارواکو سره ولاړ و او پیاله یې په لاس کې وه.

ډګروال اجازه وغوښته او د نظامي مامورینو په لور ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الکساندر مور هم په دې غونډه کې وه او د نورو مېرمنو سره چې د دوی اولادونه هم جنګي بندیان پاتې شوي وو؛ ناسته وه.

د ویلیام کوچنۍ لورګانې هم ورسره وې. الکساندر له خپلې مور سره ویلیام معرفي کړ.

الکساندر وپوښتل: ډېر خواږه او مودب اولادونه مو دي.

ویلیام موسک و، خو وروسته یې په خپګان وویل: مور یې وژل شوې ده.

الکساندر خپګان څرګند کړ، بیا یې د ویلیام په مټ لاس کېښود، ویې ویل: موږ او تاسو به یې له سره پیلوو، موږ بیا راژوندي شوي یو. په کار ده چې کابوس هېر کړو.

څو شېبې دواړه غلي وو، ویلیام وویل: جالبه ده که درته ووایم چې غواړم د برلین په پولیسو کې دنده واخلم، دوی ویل چې زموږ لپاره کومه ستونزه نشته، خو ځینې مراحل باید طی شي. ته څه پلان لرې؟

- زه غواړم چې د موسیقۍ او ښکلي هنرونو یو ننداړتون جوړ کړم. هم به تدریس پکې کوم او هم یې ترڅنګ کتابتون جوړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلیام موسک شو، په طنزي ډول یې وویل: درې وظیفې کوې، بیا یې وخندل.

***

کلونه تېر شول، هرڅه د بدلون په حالت کې و، ښار جوړ شوی و. نیمه شپه وه، باران ورېده، موټر به تېر شو او په سړک کې ولاړې د باران اوبه به یې خورې ورې کړې، سړکونه او کوڅې تشې وې، څراغونو ښار رڼا کړی و، د سړک په غاړه یو سالون و چې پرې لیکل شوي وو (د انیلا د ښکلو هنرونو ټولنه) له منځ څخه یې د وایلون غږ اورېدل کېده چې په سړک کې تر لېرې اورېدل کېده، الکساندر په څوکۍ ناست و او ورو ورو غمګین وایلن واهه، په تیاره غونډې سالون کې ډېرې تابلوګانې وې، سالون تش و، څوکۍ ایښې وې چې څوک نه وو پکې ناست، هاخوا دیوالي بخاري وه چې اور پکې بل و. ډېر هنري آثار ایښي وو. الکساندر دیوالي بخارۍ ته نږدې ناست و، په میز باندې یو کوچنۍ ساعت اېښودل شوی و، الکساندر په پوره احساس سره وایلون واهه.

د تیاره سالون په کونج کې یوې لویې تابلو ته څراغ ور رڼا شوی و چې د یوې نجلۍ څېره پکې رسم شوي وه، پر تابلو د انیلا انځور و!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**